انکار ازین قوانین هر کوششی در جهت ایجاد کدام دترکیبی بیهدر میرود و نتیجهٔ بر آن مرتب نمیشود ، همین منوال بدون مراعات آیات کتاب خداؑ که رهنمای زندگی انسان و معرف فطرت اویست هیچ عمل انسان به نتیجهٔ مطلوب نخواهد رسید فقط در روشنائی آیات بینات کتاب خدا است که انسان در بارهٔ خود و ماحولش معرفتی مبتنی بر حقیقت امر کسب میکند ، از ظلمت و تاریکی نجات می یابد و راهش را تشخیص میدهد .

« افلم یسیروا فی الأرض فینظروا کیف کان عاقبة الذین من قبلهم ، دمر الله علیهم و للکفرین امثالها »

(سورهٔ محمد : آیهٔ ۱۰)

« آیا پس در زمین سیر نکردند ، تا بنگرند چگونه بود عاقبت آنانیکه قبل از ایشان بودند ، خداوند همچین را بر آنان سرنگون ساخت و کافران راست (عاقبتی) مانند آن » .

خداوندؑ برای تثبیت مدعای قبلی ، بر شواهد تاریخی استناد می نمایند و در خطاب به عناصر کافر میفرمایند که در زمین سیر کنند و عاقبت کفر را مشاهده نمایند و از ویرانه های بناهای مجلل ستمگران ، به سرنوشت و عاقبت امر خود پی ببرند ، چنانچه در گذشته همه چیز بر کافران سرنگون گردیده ، به نابودی محکوم شده اند ، عاقبت اخلاف آنان و سرنوشت کسانیکه در خط ایشان قرار دارند غیر از همان نابودی و اضمحلال بوده نمیتوانند .

درجاهای متعدد قرآن مجید به حوادث گذشتهٔ تاریخ استناد

صورت گرفته است ، ولی بررسی قرآن مجید از حوادث تاریخی حکایت محض و بررسی خشک و مجرد و بی ربط به جریانات موجود نیست ، بلکه بررسی آموزنده ایست که در رابطه با جریانات موجود زندگی انسان صورت میگیرد و با استناد بآن جهت ، انسان را بسوی رستگاری و نجات از ادبار و سقوط نشاندهی میکند ، در بررسی‌های تاریخی قرآن مجید ملت خاص بطور مجرد در یک محدودهٔ جغرافیائی معین مطرح نبوده ، بلکه از تمدن اقوام ، در رابطه با خط فکری و روح حاکم بر آنان بحث میکند و سرنوشت تمدنها اقوام و ملل را بازگو میکند و از سنت های تاریخی بحث به میان میآورد و سنت هائیکه در هر مقطع تاریخ توصل بآن مشابه و مشخص تحویل میدهد .

چنانچه میفرماید :

« قد خلت من قبلکم سنن فسیروا فی الأرض فانظروا کیف کان عاقبة المکذبین » .

(سورهٔ آل عمران : آیهٔ ۱۳۷)

« یقیناً قبل از شما قضایا و حوادثی گذشته است ، پس در زمین سیر کنید و بنگرید که سرانجام مکذبین چگونه بود » .

همینگونه چگونگی ویرانی نهاد های کفر در آیات متعدد قرآن مجید چنین توضیح میشود :

« و اورثنا القوم الذین کانوا یستضعفون مشارق الأرض و مغاربها التی بارکنا فیها و تمت کلمت ربك الحسنی علی

بنی اسرائیل بما صبروا و دمرنا ما کان یصنع فرعون و قومه و ما کانوا یعرشون ».

(سورهٔ الأعراف : آیهٔ ۱۳۷)

« و شرقها و غربهای زمین را که در آن برکت نهادیم به گروهی به میراث دادیم که ضعیف شمرده میشد ، و وعدهٔ نیک پروردگار تو بر بنی اسرائیل به اتمام رسید به سبب آنکه صبر کردند ، و ویران کردیم آنچه را که فرعون و قوم او ساخته بود و آنچه را که برمی افراشتند ».

نگارگر

عیدی

عید می‌آید و من قلب مکدر دارم
گرد غربت به سر از دوری مادر دارم

آشیان سوخته مرغم که درین شهر غریب
گل ماتم به دل از حالت کشور دارم

خامه‌ام عقده‌گشای دل رنجور نشد
گرچه عمریست که من طبع سخنور دارم

کیست تا دست تسلی بکشد بر سر من ؟
کاینقدر دشت و دمن خاک به خون‌تر دارم

شادی عید چه سان بر درمن پانهد؟
با همه غم که ازین دشمن کافر دارم

گل بخندد شگوفان نشود بر لب من
نیست جز خون جگر آنچه به ساغر دارم

کابل و بلخ به خون خفت و هرات است خراب
خاکتود دوسه ان وادیی لوگر دارم

زان همه وادیی سرسبز و دل انگیز ببین
چه جهنم دره در درهٔ آجر دارم

می فرستم به عزیزان وطن عیدی نغز
لعل و یا قوت بدخشان که به خون تر دارم

خیز تا در دل سالنگ نشانت بدهم
اژدهای که به خون گشته شناور دارم

گل نرگس ببرم تا به مزارش ریزم
دختر خفته به خون عاشق زیور دارم

سرو و شمشاد من و تو همه افتاد زپای
همولان در دل شب یاد برادر دارم

بر در و بام من ای باد سحر نرم خرام
که شهیدان سبک خواب گران سر دارم

لاله بر تربت شان رُسته چو فانوس سپاس
چه دلیران فروخفته به سنگر دارم

گلشنم یك سره در آتش بیداد بسوخت
چون مسیح دستهٔ خاریست که برسر دارم

نغمهٔ صلح نوازند و شنود عامل جنگ
ننگ ازین تشنه بخونان منزور دارم

خانهٔ ویران و دل افسرده و پیکر بیمار
این مصیبت همه را از دو- سه نوکر دارم

آستانبوس فرومایهٔ آغنیار مباش
غره بر خویش که ارباب جوانتر دارم

«گربه» مانند «پلنگ» است، ولی نیست پلنگ
من درین بیشه بسی شیر دلاور دارم

بلغ من قبضهٔ اسلام شود بار دگر
که در آن بت شکن و فاتح خیبر دارم

موج توفنده و شاهین ستیغ آهنگم
من کجا سستی پرواز کبوتر دارم

ربقهٔ بندگی از هم بدرد آخر کار
تپشی تازه که در سینهٔ خاور دارم

گر درین عید مرا نیست بجز ساغر درد
لیک عیدی دگر و شادی دیگر دارم

میرسد از پی این تیره شبم صبح امید
عید فردا همه سوز مهر منور دارم

یك- دو جا قافیه هرچند مکرر گردید
بهرتان هموطنان فتنه مکرر دارم

اختره !

اختره ! سنا په راتلو څه ولیکم ؟
زما زړګی چې له زخمو نه ډک دی
د خوشالۍ احساس کولی نه شم
نیه خوا ژوند مې اسوبلو نه ډک دی

—*—

ته به خندا او خوشالي غواړې، خو !
زما په شونډو کې خندا چېرته ده
غلبیل - غلبیل ټیټر مې نه ویني څه ؟
د دې رڼونو مې دوا چېرته ده

—*—

اختره ! خیر دی، ته خفه چې نه شی
زما په خونه کې د غم چیغې دي
ترې د یزید کربلا جوړه ده نن
د مظلومانو د ماتم چیغې دي

—*—

اختره ! بنه یې خو پرکور چې راشې
موږ یو بې کوڅه په کښدو کې اوسو
په بل وطن کې خوار و زار پراته یو
په سپېرو د بښتو او میرو کې اوسو

د کمونیزم د وحشت له لاسه

موږ نه هر کور کې شهیدان پراته دي
د وخت فرعون بیا قتل عام جوړ کړی
وینو کې ډوب زاړه-ځوانان پراته دي

دښتې - میړې زمونږ په وینو سره دي
زړه سوی په زړه کې د دښمن نه شته دی
خلک اختر کې نېغ جامې اغوندي
زمونږه مړو ته کفن نه شته دی

موږ جنازې د شهیدانو کوو
ستا خندیدلو ته فرصت نه لرو
زمونږ په کور کې غم او ویر جوړ دی
زړه کې احساس هیڅ د فرحت نه لرو

اختره ! تا سره مو کار نه شته دی
د آزادۍ رنګین اختر غواړو موږ
زمونږ درد ونو ته، دوا نه ډېر ته
د خپلواکۍ یو روښ سحر غواړو موږ

اختر به راشي آزاد ي، چې راشي
هله به بیا اختر، اختر وي ژوندون

په ډې وا کې او بې کورۍ کې خدایې و
له غمه ډک خوښې محشر وي ژوندون.

غريبل - کاسيخپل

له غوږشخه

کارمل ته !

کارمله ! د کور غله ! ته په کومه لار روان يې ؟
حيوان يې که انسان يې

قاتل د خپل ولس شوې، ولې دومره بې وجدان يې
حيوان يې که انسان يې

*

دکور، ولس، ملت او د تاريخ سياسي غل يې
کارمل نه يې روسل يې

قصاب د خپلو خلکو، د ملي ناموس اجل يې
کارمل نه يې کارغل يې

نفرين دې وي په تا چې خپلو خلکو سره وران يې
حيوان يې که انسان يې

* * *

سپیدې

د وه یم کال - لومړۍ گڼه د ۱۳٦٤ ش ،هـ د زمری ۲۰مه
د ۱۹۸۵ م د اگست ۱۱ مه .

چلوونکی :

محمّد صدیق - پسرلی

هیئت تحریر :
الحاج غلام فاروق چشتی او اسد الله غضنفر

زمونږ پته .
G.P.O
P.O.BOX NO 665
PESHAWAR
PAKISTAN

له زړه ګرېوانست یې
په خوله به ګمونت یې
خو عملاً فاشیست یې
چالاک په دسیسو او سیاست کې لوی شیطان یې
حیوان یې که انسان یې

ظالمه، میں غضبه!
بې دینه، بې مذهبه!
وحشیه، بې منه له ربه!
دښمن ولې د خدای او د رسول او د قرآن یې؟
حیوان یې که انسان یې

له خلکو نه بېزاره یې
د خپل کاله ښاما ر یې
مین په استعمار یې
هتلر او شاه شجاع که هلاکو او چنګیزخان یې
حیوان یې که انسان یې

تاریخ ته ملامت یې
بېغوره د ټول ملت یې
لایق د ټو ـ لعنت یې
بچی د استعمار یې لوی دښمن دهر افغان یې
حیوان یې که انسان یې

داکترامین- رافق

گریه میکنم

امشب به مرگ بی‌کفنان گریه میکنم
بر حال زار سوختگان گریه میکنم

با مادری که طفل یتیمش بخون تپید
می‌نالم و ز دیدهٔ جان گریه میکنم

با پیر سالخورده که در ماتمش نشست
بر این شهید پاک‌جوان گریه میکنم

بر بسملی که در کف مرگ است و زندگی
برخیز وجست گرگ در ان گریه میکنم

بنگر ز خون ملت مظلوم و بی گناه
دریاچه ها شده است روان گریه میکنم

خونی چنین نریخت دگر هیچ دشمنی
تاچند ظلم روسیهان گریه میکنم

باخنده های صبح که آغاز میکنم
تا گاه-گاه نیمه شبان گریه میکنم

تا آسمان شرارهٔ آتش فگندنی است
دگر بهر کرانه عیان گریه میکنم

«رافق» مبند چشمهٔ بگریستن مرا
تا نیستم به خواب گران گریه میکنم

بندهٔ حق

شنیدم این حدیث پاک قدسی
که فرموده خدای حیّ مطلق
نگنجم در جهان، اما بگنجم
بآغوش دل پاك بنده حق
«حنیف بلخی»

سید محمود ـ فارانی

غلام می خریده

ای پرچمی پست! چه بدنام گشته ئی
در نقشه های سرخ چه ناکام گشته ئی

آوازهٔ دنائت تو آسیا گرفت
در بزدلی تو شهرهٔ آیام گشته یی

تو داغ ننگ دامن تاریخ میهنی
تو لکهٔ بجامهٔ اسلام گشته ئی

اکنون که رفته از کف شومت زمام کار
بیکاره و شکسته و سرسام گشته ئی

بادارها ربوده ز دست تو اختیار
تو چاکر اجیر می و جام گشته ئی

دیگر سزد که زهر خوری ای غلام می
ای می خریده مسخرهٔ عام گشته ئی

که جانان راشي!

رومان - ساغر په پښتو ادب کې یو پېژندلی نوم دی او یوه ځرګنده ځېره ، دی د کوهاټ د ځنګل خیلو په ادب ځېز کلي زېږېدلی ږمي تعلیم یې « اېم ، اې ، پښتو » دی خو شخصي ذوق ډېر دې ډېر لوړ او ښه ؛ ځکه چې ده په سپېڅلي احساس او پاکه مینه د خپلې ژبې ادبي خدمت ته ملا تړلې او په یوه وخت هم ادبي ځېړنې او څېړنې کوي او هم غزل او نظمونه لیکي ، نکه ځنګه چې دده تحقیق دقیق دی همدومره یې نظم پو خ ، غزل خوږ او خصوصاً آزاد نظم ښه او دلنشین دی.

ښاغلی رومان - ساغر د افغانانو روانه ټراژیدي قلمأخوري او د قلم په ژبه او ښکې ډېرې ټویوي ، دا لاندې آزاد نظم یې زموږ د هدې درد او وېر په داستان لیکلی او « سپېدې » بلې ته یې په مینه سپارلی دی ، چې موږ یې له ده څخه د زړه کوي په منټې سره دلته ځېرو و :

ادارہ

ما وېل : که جانان راشي

نو جانان ته به دا وایم

چې جانانه !
ته له مانه
مینه غواړې
خو حال دا دی

چې سپرلی دی په ګلشن کې
خو ګلونه پکې نه شته، د سپلیو خټکي دي
غونډه وا دي په چمن کې
خو رنګونه پکې نه شته، د خوشبویۍ ځنې عاري دي

خلق شته دی په وطن کې
بنه خویونه پکې نه شته، بې احساسه بتکي دي
ستړې هم شته سړه بن کې
خو ځانونه پکې نه شته، تش د نوم دي، سرسري دي

وفې هم شته په دې بن کې
خو قلم د ترې نه سازیږي
هم د پاپو نه خالي دی
ز لمي ګرځي سمه - غر کې

خو بې ننګه غونډې بنکاري
جوړې خاندي په ګودر کې
خو بې خونده غونډې بنکاري

دا سې حال کې جانه وایه !
زه به څنګه مینه وکړم ؟

زه به څنګه ژوندون ښه کړم ؟

* * *

ما ویل: که جانان راشي
نو جانان ته به دا وایم

چې جانانه !
ته له مانه
مینه غواړې
خو حال دا دی

چې چمن کې خو مزې کړي ځني - ځني
او هم دلته د چا ژوند دی غني - غني
او هم دلته څوک په کیده ننه ارګرځي
او هم دلته څوک په خاورو کې لوټ پیړي
او هم دلته څوک دولت نه، نه مړیږي
او هم دلته څوک تړو پسې پرېنډیږي
او هم دلته څوک په سرو زرو لوبیږي
او هم دلته څوک په سرو ستړګو ژړیږي

دا سې حال کې
جانانه !
وایه

زه به څنګه ؟ -
ژوندون ښه کړم

زه به څنګه ؟ -
مینه وکړم

* * *

ما ویل : که جانان راشي
نو جانان ته به دا وایم
چې جانانه !
ته له ما نه
مینه غواړې
خو حال دا دی
چې سحر دی خو ړېنا یې ړندول کړي
نمر هم خاندي خو شغله یې ژړول کړي
چمن شین دی خو فضا یې نړېدول کړي
موسم یخ دی خو هوا یې سوړول کړي
مینه شته ده خو لیلا یې ځوړول کړي
زلفې هم شته خو تیاره یې ویړول کړي
بربت تاویږي خو کنډه یې مانول کړي
داسې حال کې
جانه !
وایه
زه به څنګه ؟ -
مینه

وکړم
زه به څنګه ؟-
ژوندون ښه کړم

* * *

ماویل : که جانان راشي
نو جانان ته به دا وایم
چې جانانه !
ته له ما نه
مینه غواړې
خو حال دا دی
چې دنیا کې عجیبه کاڼي پیدا شوې
چې انسان ته د انسان غوښې روا شوې
چې انسان ته د انسان وینې وړیا شوې
چې انسان نه د انسان رشتې جدا شوې
چې انسان ته خپلې چارې بوبلا شوې
چې انسان نه د خدا ځ لارې هم خطا شوې
دا سې حال کې
جانانه !
وایه
زه به څنګه ؟-
مینه
وکړم .

داکتر رازق - بالوال

د شپې او ورځې سره

څنګه چې افغانان په عمومي توګه سره کليوالي او ګړۍ دي ، ځکه نو د دوی تاریخ یا له لویه سره څخه کورت کښه شوی :

او که کله - کله چېرې کښه شوی هم وي ، هغه د زمانې په تو ، او سړو کې یا سوځه شوی دی ، یا د طوفان باد یا اوبو وړې دی ځکه مو نو له تاریخ څخه د خولې خواله جوړشوی وي . یعنې هغه یو داسې داستان ګرځیدلی وي ، چې هسې د زړه خروښ په کاږو ، د غه پسې بیان هم دغسې وبولئ .

دا په ډېنګه سره نه شم ویلای ، چې کومه تاریخي ټوټه هېښه به وه ، چې زمون پر پټیو او باغونو باندې یې ګډې او ډوبرې و رژولې ، چې د تالند ې او بربېښنا طوفان یې زمون ښارونه او کلاوې له خاورو او ایرو سره رابرابرې کړلې . ښایي د چنګیز خونړي اردو به و ، چې له شمال څخه لومړی پر باختر یانا باندې راتوی شو او ام البلاد (بلخ) یې له نورو ښارو سره پوه پنا کړ ؛ یا ښایي چې د ګودر تیمور اردو به و ، چې تر آمو

فهرست

شمیره	مضمون	لیکوال	مخ
۱	تفسیری از آیات قرآن حکیم	—	۳
۲	عیدی	نگارگر	۱۳
۳	اخترته !	نصرت	۱۷
٤	کارمل ته !	کاسیخیل	۱۹
۵	گریه میکنم	رافق	۲۱
٦	غلام می خریده	فارانی	۲۳
۷	که جانان راشي !	ساغر	۲٤
۸	سره شپه او توره ورځ	پالوال	۲۹
۹	زوړ ارمان (ژباړه)	اباسین	٤٤
۱۰	د شهیدانو هدیره	شفیقی	٦۵
۱۱	د پټ کور	انګورګر	٦۹
۱۲	آشنا قبرونه	غضنفر	۷۳
۱۳	لنډۍ	—	۸۱
۱٤	غزل	ساده (پیښوری)	۸٤
۱۵	وطن	زرکه	۸٦
۱٦	شهید ارشاد	رفیع	۸۸

راپورېووت ، بامیان او نور بنارونه یې کندوالې او د سیستان شارګونه یې ورپرې کړل ؛ یا به بنایي چې د نادر افشار قزلباش قشون و ، چې کندهار یې رنګ او رونه کړ ؛ یا به یو بل د غسې تاریخي لېونی و ، چې د افغانانو بنارونه او کلاوې یې ټرولې او په زینو لړلې وې . چا چې وخت او موقع پیدا کړې وه ، هغو هسې خپل سرونه ایستلي وو . چا بیا له وارخطایۍ یا له بېرې خپل کوچنیان او ښځمنې ټرشا پرې اینبي او یواځې یې د خپل سر غم پر سر اخستی و . هرډیوه پر هره هغه خوا باندې ځغستل ، چې هوریې یې د ځان د پاییدنې امید لاره .

د د غسې کسانو له دلې څخه یو هم « لالهانده » و ، چې د خپلې ودانۍ ټر ویرانې وروسته یې د ځان له پاره یوه مېنه او تاتوبې لټاوه . ده په خپله لارکې ځینې دا سې تاتوبي هم ومونډل ، چې هغه یې له انسانانو څخه تش ټوروالې وو . په ځینو کې لا لږ و ډېر ساما نونه هم اوډلې یا ځله پاتې پراته وو ، ټر انسانانو وروسته دوه یم شی چې لالهانده په یوه او بل کور کې لټاوه هغه خواړه وو . ځکه چې ده بشپړ شپه او ورځ شوې نیولې وه مګر په هیڅ کور کې د خوړو البو شاکلام نه وه پاته ، څه د خوړنې مواد چې چا ټر شا پرې اینبي وو ، هغه د کور د مېرو او مورچانو شومه ګرځیدلي وو اوهم به د غره او بیابان چغالانو او ګیدړانو ځانونه پرې مېلمانه کړي وو . ځکه چې د کور وخاوندان ورک او ورونه یې پرانیستلي پرې اینبي وو .

د لالمانډ دا درېیمه ورځ وه، چې ده ېې له‌دري-څلور پلا زلالو اوبو چښلو څخه نور هره پلا په ناور یا ډنډکي د باران خړې او خته اوبه چښلې وې . له خوارو څخه ېې نور څه په سترګو لا هم نه وو لیدلي ېې له دښتې او غرڼه شینګیا څخه لکه بوشکي تروه کي ، د مرغې پښې ، د کارګه تیکې او داسې نور چې هغه ېې هم له دواړه په نیم نس خوړولي وو . ځکه بډریدی چې تمبه‌ېې نکې په دغو کې ځینې داسې شینګیاوې وې ، چې هغه ده پېژندلې هم نه لوړې او تندې به کله-کله په ده دلېونتوب مخ ولګاوه....

ژیړې لمر مهال و ، چې نور د ده امید له خپله ژوندانه څخه وخوت . د بر ارمان پر خپله خوشمرتیا وربته درېدی . له ځانه سره به ېې داسې فکر کاوه ، چې کشکې د د ښمن په بډریدکې مړ وای ، نه له لوړې څخه- یو به شهید وای او بل به له سانتونزو او خوارېو څخه ژغوره شوی وای . په د غه وخت کې و ده ته یوه داسې خرافاتي اندېښنه ورپیدا شوه ، چې د زیړې لمر له پرېوتنې سره سم به پرده باندې هم د مرګي تورې پرده وغورېږي . هغه مهال چې د لمر تیکې د مځکې پر افق کښېناستله ، ده هم خپل ښې لاس د آس د زین پر مرکندۍ باندې کښېښاوه او تندې ېې پرې ولګاوه ، خو آس خپله نیمایي سپرلو وهله ، ېې له دې څخه چې ډډه له خوا څخه ټومبه شوې یا برغ پرې شوی وي . هغه داسې ایسیدی لکه کوښښ چې ېې کاوه ، څو دې چېرې تر ژوندو پورې ژوندۍ ورسوي . ښه ګڼه وروسته ډډه په زړه کې داسې ورګرځیده

چې يره پلا سر پورته کړي او وګوري، چې د لمر ستر ګه بشپړه ډوبه شوې ده او که يې لوړه څوکه لا ښکاري ـ په دغه ترڅ کې ښه ګړۍ ټېره شوې وه، حتی د لمر رونا لا م د آسمان له مخې څخه تله شوې وه . وخت پوره ټېره غوښې و ، په تياره کې دده ستر ګې روښې شوې، زړه يې پوره شو . دغه نه يواځې له دې امېته څخه چې دده خراڼې اند پښته غلطه ثابته شوه ، دا چې لمر لويدلی او دی لا ژوندی و ، بلکې د وړانديې يې بل اوروښه ولېدل، له دغه سره سم دا اميد او خوښي ورپيدا شول، چې دی وګوري پښې ته ژوندی رسېدای شي . ددغې خوښۍ ځای يې ببرته نا اميدۍ ونيوه ، کله چې يې دا متل ور په ياد شو چې: « د شپې به داور پر روڼا نه ځي او د سپو پر غپا». ځکه چې ددغو دواړو احساس له ډېره لېرې څخه کېږي . نو دی ببرته خواپوښه شو او سر يې د زين پر مرکنۍ باندې ولګاوه . ده نور م زړه پسې ولويد ی ، کله چې يې آس په کام شو . ځکه، دغه پښته ده د اسې و انګېرله لکه آس چې يې نور له سپرلو څخه لويدلی او سوده شوی وي . له دغه سره سم يې ژر د سپو غپا تر غوږ شوه ، چې دده پرخوا ورننوتې ديدله . دی هلته يې په زين کې جلا کښېنوست . څه ګړۍ سم نه پوهيدی، چې هغه وړانديې اوروښه چېرې بل وو . وروسته د ځېنو لوړو لمبو رونا وې، چې پر سکامونو او پښتولونو باندې لګيدلې ، دی يې وپوهاوه ، چې اوروښه په کړديو کې بل وو .

د مخـه تر دې، چې په مېنـه ورکښېوزی، ده د آس ملونه mluna ورکښې او ټېنګ کړل، آس هم ټوک ونیوه، ده دريې پلا ږغ کړ، چې: «څوک نارينـه په کور کې شته؟» چايې پوښتنه ورغبرګه نه کړه، ځکه چې له يوې خوا ځخـه ... ددې آواز يې سېکه و او له بلې خوا ځخـه د چا پېره شوو سپو غپا وه. نو ښايي نه به چا ددې ږغ اوريدلی وي او نه به يې دخپلو سپو په غپا سر ګرځولی وي. ځنګه چې ده د نور ځنډ ټېک نه لاره، نو يې ملونه د آس پس ورږ ورواچول او هغه يې وخپل سر ته پرېښاوه. لکه ځنګه، چې آس نوره لاره په خپله وهلې وه، اوس دې هم په خپله د کور بانه کېږدې پيدا کړې. دې هم ديوې ټوري کېږدې پرخوا باندې ور په ګام شو او د هغې د مخې ته يې سوکه و شيشل.

له کېږدې ځخـه يوه سپين سرې ښځـه راووتله او و ده ته يې د مېله په توګه ښه را غلی وويايه او و کېږدې ته يې د ننـه ور بلـه. لالهانده کوښښ وکړ، چې له آسـه ځخـه پـس ولاړو پښو کښته شی، خو ځنګه چې يې د بدن سېک او شومه ختلې وه، پښې يې غبرګې شوې او مخکې تکيه کړ. کورنۍ يې سمدلاسه پـر ورږ کړ: «ولې زويه؟! ژوبل يې؟» — «يه موريۍ ژوبل نـه يم، خو سترپايا او لوږې کاوالـ کړې يم. نن مې دريمه ده چې شوم يم». د کېږدې مېرمنې و لور ته ورږ کړ، چې آس و شپاله ته ور ننه باسي.

لا لېماند چې پر خپرو او څېنده نه و کېږدې ته ورنوتلی و او لږ وخت وروسته، چې پر سد راغلی او سترګې يې رونې کړې ويې ليدل، چې د کېږدې مېرمنه په چمچه سره لږ - لږ شيدې د ده په خوله کې ورنغوي. ده ژر مخه وکړه، چې ټول کوتوری پر سر پورته کړي او شيدې يې په يوه پلا هيندې کړې مګر هغې پرې نه بناوه او سوکه - سوکه يې لوهه ورماته کړه.

ورو سته چې لا لېماند جلې ناست و او سترګې يې رونې شوې وې، د سپين سرې د لور د تر پيکي لاندې يې څه پټ او څه لخ پټک وليدی، چې غمي يې د اور لمبه د بخرکو غونډې منعکسه کوله. څنګه چې دا تر کېږدې دننه او د باندې کيدله، نو يې باد په پيکي لاس واهه، چې پټک به يې کله يوځيزه پټ و - يا يوځيزه بنکاره، يا به ددغو دوو حالاتو ترمنځ لخ و پټ کيدی. سرېره پردغه ده دا م وليدل، چې په کېږدې کې يو شمېر نارينه هم ناست وو، چا يې په بوړي لاس واهه، خوک يې په توره بوخت و، او يوه او بل يې خنجر پرله اړاوه. دوی چې لا لېماند پر هوښ و ليدی، نو يې غوښتنه وکړه، چې له دغې کېږدې څه و يوړي بلې کېږدې ته ولاړ شي. ولې چې دغه کېږدې بې نارينو ده او له ښځمنو سره ده اوسيدنه روا نه ده.

د کېږدې مېرمنې سمدلاسه سړې ورغبرګ کړه چې: « دغه

کښردې د خدای هېڅکله بې ناریښه وو نه کوي. شکر دی، او ه زامن لرم. خو څنګه چې بد مرغي راڅرګندې شوې ده، نو اوه سره پر اوو لاسو ورګ دي. دا چې تاسې وایاست له بنځینو سره د پردې سړي اوسیدنه زموږ دود نه دی، نو ما هم په وسورپسې سړي استوګنې دی، چې هغه د شپې ټپر له پاره دلته راشي خو څنګه چې پښتنه او د پښتانه لور یم، نو په دې توره شپه مېلمه ترکور نه شم ایستلای.»

-«که خه هم ستا وسور یا بل ناریښه دلې پاتې شي، خو بیا هم دلته دده پریښوونه ناروا ده. ځکه چې دغه سړی د دغې کښردې دښمن دی. هغه دی دی، چې دغه کښردې یې بې خاونده کړې ده. موږ دی له خدایه څخه پر آسمان غوښتی خو خدای پر ځمکه په لاس را کړ. موږ هسې-مړو د ده چاره ورکوو.»

په دغه آن کې د کښردې پېغلې پېټک له خپله تندې څخه وپرانیست، د لالهاند تر سرې وګرځاوه او بیا یې د اور وینځې ته ورخوښې کړ. لالهاند چې ویل دده د ستړګو کسې یې و اور ته ور وغورځول او سلا-بلا یې پرې ور ښ کړه: «مه، ولې؟» - «جار، ستا د سر بلایې واخیسته.»

په دغه توګه سره هغه په کښردې کې ناست کسان دم او دود شول، دوی بیا د ترهغه پورې بله خبره نه وه کړې، خو پېغلې و مورته دوې دلاندې کټرې ورکړې، چې و مېلمه ته یې

پر اور باندې ورکباب کړي .

پر دغه باندې د کېږدۍ ناريښه وو بيا اعتراض وکړ مګر د کور مېرمنې ورته وويل : « څنګه چې دغه سړي وموږ ته د مېلمه ستړګې ټر لويدې د مخه راغلی دی ، څکه نو زموږ په سترګو کې د بشپړې مېلمستيا برخه لري . » په دغه ترڅ کې د مېرمنې وسوړ هم راورسيدی او سړي شکايت ورته وکړ .

ده په ځواب کې ورته وويل : « وايي چې ناخبره د مرګ لېوه دی » ، څکه نو زه اوس څه نه شم ويلای ، څو په حال بشپړ خبر شوی نه يم .

کله چې لالهانده خواږه خوږلي او بدن يې څه نور سپك موندلی و ، نو د کېږدۍ مېرمنې مخ ورواړاوه : « زويه ! پر ما چې دې څه د مېلمانه حق لاره ، هغه مې له خپله توانه سره در اداء کړ . ټر دغه وروسته زه د کورښې په توګه دا حق لرم ، چې ته په رښتيا سره و ماته خپل ځان راوښيې. آيا ته ودغې کېږدۍ ته د دښمن په توګه راغلی يې ، لکه څنګه چې زموږ ټربرونه تا په دغه ټور ټورن کوي ، که ټنوالې راغلی يې ، يا دې پناه راوړې ده ، يا هسې لاروی مېلمه يې ؟ »

- « څنګه چې ما په خپل ژوندانه کې په شعوری ډول سره له هيڅا سره د دښمنی نه د ی کړې ، څکه نو زه نه لکه د دښمن او نه ټنوالې راغلی يم ، دا چې زما کورنۍ او کور د تاريخي لېونيانو د لېونتوب قربانی شوي دي او سپر دنيا څوك نه دي راپاته ، څکه

نو اختیار ستاسې دی، چې مېلمه مې بولئ که پناه غوښتونکی ؟» په کېږدیه کې ناستو ټارینه وو له یوې خوا او بلې خوا څخه خولې ډېرې ورپېرانیستلې او دروازغجن پې وبالله : «له موږ سره اسناد او شواهد موجود دي ، چې تا د دغې کېږدیې خاوند (لوی خوان) وژلی دی ! »

د څخه ښکاره ده، چې لالهاند خپل انکار نښوولی وي ، د کېږدیې دمېرمنې ورور ورته ووېل : « په اوس کې ستاسې تعرض او دفاع بې فایدې ده ، پکاه (سبا) به مرکه د اسنادو او شواهدو په رونړا کې تاځاګه کړي . مننه شپه خو ته په هره توګه زمونږ مېلمه پې او ساتنه دې پر د غه کېږدیه باندې پوره ده . پکاه چې له د غې کېږدیې څخه ووتلې ، بیا د خپل ځان د فاع او ساتنه په خپله کوه ! »

ګېږ ځ مشر ځان ډېر بولنې ، ټماخته او ټاري وروسته لالهاند د مېنې له سپینې ږیرې مشرانې او په درسته سنبالو خوانانو په ملګرتیا مخ د مرکې د ځای پرخوا روان شو . پس له یونیم - دوو ساعتو بلې تلې څخه دوی د غرو او غونډیو په منځ کې و یوې میدانې ته ورسیدل . پر د غه مهال باندې له شا و خوا مېنې څخه نورې دلې هم را رسیدې ونکې وې . له هرې دلې څخه په درسته سنبال خوانان د خپلې خپل غونډیو باندې ترشا پاته شول او یوا ځې بې مشران ، سپینې ږیرې او خوانان چې درسته ورسره نه وه د مرکې ومیدان ته ور د څخه شول . هرې دلې له بلې څخه ځه ګونبې ځای

وښوه ، يوه ستانه سړي مرکه د قرآن شريف په خو مبارکو آيتو لوستنه سره پيل کړه . بيا نو له هرې پلې څخه يو - يو ځوان ولاړ شو او لالهانده پې دخپل د خپل پلار د مرګ قاتل و بالهاو ځان پې د خپل پلار د بسپګنې او بدبيو وارث . لالهانده چې وچ کالبد غونديې ولاړ و او د يوې او بلې خوا انتهامونه لکه غشي پرې اوريدل ، د مرګې د شا و خوا سپين ږيرو ته پې مخ ورواړو او پوښتنه پې ځنې وکړه ، چې تاسې ما پېژنئ ، چې زه څوک يم او له کومه راځم ؟ کله او چېرې مې لوی ځوان وژلی دی ؟

-« نو دا خو ته راته ووايه ! موږ څه پوهيږو ؟ »

-« نو تاسې چې نه پوهيږئ ، ولې بايد يو کار وکړئ ، که به څه هم هغه ستاسو د ترستر ګو بنه ايسي ؟ ولې ځانونه نه - پوهوئ ؟ تاسې که د ترڅنګه نه شئ کتلای ، ترشا خو وګورئ ، که نالوسته ياست او ترشا هم نه شئ کتلای ، نو شاوخوا خو وګورئ ! وايې :« پر لوړه وخپړه ځار وکه - چې نور پې کړې هغسې کار وکه ! » څوک چې په خپله فکر نه شي کولای و نورو ته خو دې وګوري .... »

-« د ښه مه ږغېږه ! موږ تا بنه پېژنو ، خو بيا هم بنه دی چې ته په خپله ځان ولوبنيې . »

-« تاسې چې خپل ځانونه او خپل دوستان او د ښمنان نه راوبنه نه دي پېژندلي ، ما به چېرې پېژنئ ! تاسې چې خپل نه پېژنئ سپردې به څه وپېژنئ ! آيا تاسې د ترخپلو پښو لاندې مځکه

پېژندلې ده، چې سترګې مو په آسمانو کې دي؟ زه هیڅوک نه یم ځکه مې تاسې نه پېژنم. تاسې دوه کسان د پرنښه پېژنم-مړي او بادار. زه له دغو دواړو څخه یو لا هم نه یم. زه د افغانپورو د کهاله، کلي او کلا یو غړي وم او نور نه یم. په پکاه، چې به دکافرانو د کال نوې او د خوښۍ ورځ وه، په ښکلا یې پر موږ باندې د غم او ناورین شپه جوړه کړه، موږ د غفلت په خوابه خوب بیده وو، هیڅا راویښ نه کړو، مګر د مرګي بزغ. وار د واړه مودا فکر کاوه، چې تالنده او برېښنا ده خو دا چې ځکه وړسره ربړ دیدله، موږ ویل زلزله هم ورسره ده، کله چې په کوسرو او کوڅو کې د اوسونو لوبې سکرو تې راوریدې او چاودیدلې، موږ چې ویل آسمان ونړیدی او ستوری یې پرموږ باندې راتویږي. په دغه ترڅ کې د کلاوال له خوا څخه بزغ شو، چې: هلۍ! ښېګڼې (برجونه) وڅیئ. ما هم وخپل زاړه توپك ته لاس وروغزاوه او ونڅډې ښېګڼې ته ورپورته شوم. پر کلا باندې شاوخوا اوسپنیزې بلاوې راګرځیدلې او ترخولو یې سره اورونه غورځول. نوره شپه مو په سره شپه سره اوښتې وه. ښایي تر پکا څابسته پورې به موږ په توپکو له توپو، تانکو او الوتکو سره جنګیدلي یو، ښایي مې ځکه وویل چې لمر مونه شوای لیدای. د ورځې له خوانه یواځې د اوسپنیزو بلاوو ترخولو تور دودونه وښل، بلکې په کلا کې دننه د سوځیدونکو انسانانو، له کالو او له سوځیدونکو انیو هم

تفسیری از آیات قرآن حکیم

بسم الله الرحمن الرحیم

والذین کفروا فتعسا لهم و اضل اعمالهم • ذلک بانهم کرهوا ما انزل الله فاحبط اعمالهم • افلم یسیروا فی الارض فینظروا کیف کان عاقبة الذین من قبلهم دمر الله علیهم وللکفرین امثالها •

(سورهٔ محمد: آیهٔ ۱۰)

ترجمه:

« و آنانکه کفر ورزیدند پس تعس برای آنان و به گمراهی کشاند اعمال شانرا . و این بدان سبب است که ایشان چنین را نه پسندیدند که خداوند نازل کرده است پس اعمال شانرا حبط کرده آیا پس در زمین سیر

نور دودونه او هم د نړيد ونکو دا نيو څخه خړې دوړې پورته کيدلې ، چې موږ يې د آسمان له سترګو څخه پټ کړي وو . دوغندي احساس مې وکړ چې يوه بمب يا لوبې ګولۍ د بنيګڼې کښته برخه ووهله ، نور په ځان نه يم پوهيدلی . کله چې پر هوښ راغلم وپوهيدم ، چې ځان مې نيم متر خاورواوړندې و او سر مې د يوې ډبرينې تختې او د کلا د ديوالې ترمنځ خوندي پاته شوئ و . خاورې مې په خوارګه له ځانه وارولې او له ګوره ځړاووتلم . په هيښو سترګو مې وليدل ، چې هم کلا مړه وه او هم يې اوسيدونکي مړه وو . نورځه مې له لاسه پوره نه وو ، بې له دې څخه چې پر يو شهير لغو لاسو ، پښو او بدنو باندې ، که به پرله پورې وو که نه ، څه خاورې او لوټې وارولې ، خو د لېوانو او تپوسانو شومه نه وې ګرځيدلي . ځنګه چې هم زما کار وپای ته رسيدلی و او هم ورځ پر تېريدو وه ، نو مې په لوړ آواز پر ږغ کړ چې : « د افغانپورو د کلا مړو ښځمنو او نارينه وو ! ماحق درځپل کړي دی او هيله ده چې تاسې به يې هم راځپل کړئ . زه نن تاسې مړه د ژوندو په هيله د ترشا پرېږدم . کله چې شپه شي نو به مو د آسمان له سترو سره فاتحه واخلم . » له دغې ورځې سره دري ورځې پر لاړې وم ، نګوښيدم به ، غوڅاڼ شوم به او ولاړېدم به . که به د ولاړېدو نه وم - هوږې به بيديدم کله چې به ويښ شوم ، بيا به خوځيدم او ځوميدم به ، تر خوچې بيا به مځکې و ځان ته ور کش کړم . درېيمه ورځ د زوال

مېرمن به و ، چې نور مې لېنګې بدن نه شوې وړاى . له خان او ژونده څخه مې امید ختلى و . دا پلا بیده شوې نه ، بلکې بې هوښه شوې وم ، کله چې پر سد راغلم ، یو سپین ږیرى سړى مې واړخ ته ناست و او له خپله پتکه څخه یې د شفا د اوبو ، څو ورځې ناوې په خوله کې راتنول . زه چې پوره پر هوښ راغلى او راکښېنتل وم ، نو مې پوښتنه وکړه ، چې دى څوک و - جن و که انسان ؟ پېرى که پرېنبته ؟

- « هسې تاغوندې یو نامراد یم . تا مره نه شا پرې اېښې او زړه دې په خټلى دى ، خو ما بیا ژوندى پرې اېښې دې او روح مې ناآرام دى . ما د دوى په برخه کې دیر خلې وکړې ، خو دوى نامراد کړم که په خپله نامراد شوم ؛ مارنې دوست چې د وروڼو تر منځ ، نه یواځې اختلافات لرې ، بلکې پر مخ والړ کړې شي خو ، د دوى او سنې تضادونه ، چې وینم ، نو زه نامراد یم ؛ ما هیله لرله ، څو دوى دا سې وروزل شي ، چې یو د بل نظرې اختلافونه تحمل کړاى شي ، خو او سنۍ وضع ، چې یې ګورم ، نو زه نامراد یم ؛ ما غوښته ، چې دوى پر خپلو سترونزو او مشکلاتو باندې په خپله بریالي شي ، څو و پرې دیو ته یې د مرستې له پاره ستړکې او خولې نه وې کړې ، چې هغه د دوى له ارتیا وو څخه ګرځېدنه استفاده وکړي ، خو او س یې وینم ، چې زه نامراد یم ؛ ما ارزو لرله ، چې دوى په غم او په ښادۍ کې یو د بل پر څنګ سره ودرېږي ، یو پر بل تکیه سره وکړاى شي ، یو او بل را پورته

چې تاسې پر خپلو ځایو باندې تر لاندې ولاړ یاست. هیڅ یوه لکړه به نه ځان په زړو او نه په جواهرو خرڅوئ، ځکه چې بیا مو کښردکه نشي پیرې؛ او دا هم باید درته معلومه وي، چې تاسې تاریخي مسوولیت لرئ؛ ځانونه به د تاریخ و قضاوت ته سپین ښیئ، نه تور. استغرالله- خدای دې د تاریخ له محکومیته څخه ساتنه درکړي. د لوبې ازموینې په میدان کې ولاړ یاست دغه آس، که دې د ژوند څو ورځې پاته وې، تر دوی پورې ورسوي. دغه بورې، تورې او خنجر زما د وینا او زیرمې ننبې دي، چې د پیغام تر رسولې وروسته به د دوی له سترګو او لاسو څخه ورک کیږي.»

(پای)

زموږ په وینو ې ښکاره دواړه لاسونه سره دي
زموږ په غوښو ې دخولې واړه غاښونه سره دي
سره ښیرغونه د خلقیانو ورته وینې وایي
دا خو زموږ د تن شلیدلې ګړیوانونه سره دي

«غمخور»

زوړ ارمان

لاندینی کیسه د « آرثر آف لینن » په نامه د اردو ژبې نومیالی لیکوال حسین - صحرایي لیکلې او په نامتو اډیټ مجلې « سیاره » کې خپره شوې ، چې محمد افغان - اباسین ژباړلې ده . (اداره)

زاکوف په یوه داسې ماحول کې پیدا شوی و چیرته چې د ده د پاره د هیڅ شی کمی نه و . ده د آلنه - پالنه او تربیت په دوبر ناز او نعمت کې شوی و . که غم هم چې هغه ته مرقسم آرام او سوکالی میسر وې ، خو د ی د مور د غېږې نه محروم پاتې شوی و . ده خپله هم - یعنې د خپل پلار په شکل و مه ده پلار د روس د انقلاب په سرکښ پوځ کې شامل او د دېرې مودې پورې یې سرکاری خدمت وکړ . ده پلار غوښتل

چې دی په خولۀ کې یو زبردست فوجي جوړ او د «آزډ رآف لیټن» نښان یې په سینه رخوړلی وي ـ دا د ده د ژوند یوغټ ارمان و. ده به ویل چې ما ژوند د دې لپاره نه مطالعه کړی دی، ژوند یو بې مقصده شی معلومیږي، بس آخري ارمان مې دا دی چې د زاکوف په سینه ... ولیدی شوی .

د ژوند کاروان مخ په وړاندې روان و ، زاکوف هم د ابتدایي تعلیم دوره تېره کړه، د ملک په عنعنه فوجي اکاډیمۍ کې یې داخله واخیسته . ده په دې ځای کې د تربیت مختلفې مراحل طی کړې ، په دې اکیډیمۍ کې ماهرو استادانو لکچرونه ورکاوه، د دې مغزشویې نه وروسته به هر شخص په کار ګمارلی کیده . دوی ته به ویل کیدل، چې د ملک په هرځای کې د امن، سلامتیا شخصي آزادۍ او انساني حقوقو احترام کیږي ، خو څومره به بنسه وای چې هغوی بهر راوښلی او د سایبیریا د سړې علاقې دردناک آهونه یې اوریدلی او یا یې د هغو مظلومانو په حال رحم او توجه کولی، څوک چې شپه او ورځ د تولید په زیاتولو لګیا دي او د حاصلاتو د پاره مخنت کوي . د تربیت په آخري دور کې د افغانستان نه، څه فوجي افسران د تربیت حاصلولو د پاره راغلل ، روسانو چې خپل ځان د بهر غټ بشکاري په وړومبي سر کې به یې دغه فوجي افسران دخپل ځان نه کم هغه وخت ګڼل . مګر ددوی دغه تصور غلط ثابت شو: کله چې یو افغان افسر په خپل توګې کې د اسې سوال و کړ، د کوم ځواب که په

هو، وکړی شي نو انتېرکټر به ضرور د سایبریا تماشا کوي. افغان فوجي د روسانو مسلط کړي شوي علمي تسلط مات کړ او دا يې ثابته کړه چې علم د چا میراث نه دی. زاکوف د ابتدا نه په دې امید و، چې افغانان د دنیا دې نه وګوري، ده د خپل پلار نه اوریدلي وو، چې په دغو غرونو کې آباد قوم د ترنته پورې د هیڅا غلام شوی نه دي. خو قاموس د دوی د غلام جوړیدلو کوښښ وکړ، خو د عبرتناک شکست سره مخامخ شول او وتښتیدل. زاکوف د امیرکل سره د دوستۍ تیره اینښې وه، د دوی دوستي په دې قسم نوره هم مضبوطه شوه چې دوی به یو ځای ګرځیدل او یو ځای به يې ناسته-ولاړه کوله او موضوعات به د دوی د بحث مورد وو.

زاکوف یوه ورځ د سیل په وخت کې د امیرکل نه یو تپوس وکړ:

امیرکله وروره! زما په دماغ کې د ترنته پورې د اخیره راغله چې دا تاسې خلکو سره آخر څه قسم عزم او وسله ده، د کوم په وجه چې هیڅ قوم په تاسې باندې د هیڅ قسم غلبه حاصله نه کړی شوه او د هیڅا د غلامۍ طوق مو په غاړه نه کړ. د دوارو ملکونو په منځ کې د دوستۍ د تړون و، نو بیا د تاسې خلکو، ولې دومره مخالف دي؟ چنانچه دغې معاهدې، تاسې خلکو ته ډېره ـ ډېره فایده رسولې ده.

امیرګل مسکی شو او ویې ویل : اول خو دا ده چې ستاسې دغه تپوس زمون د بحث موضوع نه ده . دوهیمه خبره داده چې د دې تعاون په بهانه د دنیا په هر ملک کې څه-څه نه کیږي چنانچه دغه ټول څیزونه له تاسو نه پټ نه دي، تیک ده چې موږ شرقي غواړو ، خو د غیر دینی اقدارو د غلبې سره په کلک دول مخالف یو . موږ سره د غلامۍ هلوڅه تصور نه سته - موږ صرف د یوه ذات غلامي کوو ؛ دهغه ذات چې هغه د ټولو کایناتو مالک دی .

زما ګرانه دوسته ! ته خو جذباتي شوې ، زما مطلب دا نه دی چې ستاسې مذهبي جذبات وچېړم او زخمي یې کړم امیرګل وویل : خبره داسې نه ده ، موږ هیڅکله هم داسې معاهده نه شو ن غملی ، چې دهغې په وجه زموږ آزادۍ ته ډېره لږه خطره متوجه وي. امیرګل د جذباتو په توپان کې روان و او خبرې یې کولې . زا کوف وویږیده چې که چیرې څوک دده خبرې واوري ، نو یقین دی چې څوروڅې به یې په کوم نفسیاتي شفاخانه کې شامل کړي ، نو زاکوف ورته وویل : راشه چې یوه پیاله چای وڅښو .

شپې-ورځې تیریدې ، هغه و رځې هم راغله چې ده خپل تعلیم کړاو د اکیډیمۍ نه واپس وطن ته ستون شو .

د ژوند کاروان خپل منزل کاوه ، هرڅیز په خپل محور چورلیدل . د حیوان زاکوف سرهم سپین شوی او اوس دی

د روس په فوج کې د کرنیل (ډګروال) رتبې ته رسیدلی وو. یوه ورځ دی په خپل تصور کې د خپلې اوږدې ماضۍ په یاد کې ډوب او د متاع په ګټه او کوښښ کې و، چې د تلفون زنګ ددې د تصور قافله له نیمګړې نه راسنتره کړه، خو چې د تلفون غوږۍ یې اوچت کړې، د مخاطب جانب نه ورته یو ډیر مختصر آرډر ورکړی شو- زاکوف ته وویل شول، چې سمدستي خپلې فوجي چاوڼې ته راورسیږه. څو شیبې وروسته دی خپلې چاوڼې ته ورسیده، د رومبنو احکامو مطابق خپل بولندوی ته ورغی. ویې کوته وه، په منځ کې یې شکله میز پروت و، د میز شاته روسي بولندوی، چې پراسراره شخصیت یې لاره، ناست و. په کوټه کې سره رڼا وه، کله چې زاکوف د غې کوټې ته ورداخل شو نو نومورې سړي ورته روغبړ وکړ، او بیا یې ورته دکښېناستو اشاره وکړه.

زاکوف په کرسۍ کښېناست، روسي بولندوی ورته وویل: «ولوره ملګرېه! تاسې په دې وخت کې دلته د څه مطلب د پاره راغونښتل شوي یئ؟ په منګولیا کې ستاسې دکارکردګۍ او د افغانستان سره ستاسې دلچسپۍ په خاطر تاسې ته یو اهم مشن (فریضه) درسپارل کیږي، یقین مو دی چې تاسې به د لوی روس قیادت نه مایوسوئ. په دې فایل (دوسیه) کې ټول څېزونه لیکلي دي، د غه ولولئ. او تاسې خپله وړه لنډه «زاګره» هم افغانستان ته د خپل ځان سره بېولی شئ! خو سترګې

مو ټپرانیزئ او توجه وکړئ !»

زاکوف وویل : زه هیڅکله هم د وطن مور نه مایوسوم.

د زاکوف بولندوی وویل : ټیک ده ، ته اوس تلی شې !»

زاکوف دوسیه راواخیسته او بهر راووت ، هغه په دوبۍ ورځ افغانستان ته راورسید ، ده کلونه ـ کلونه په خوب کې ښه اوچت غرونه ، ښایسته پټې او قدرتي مناظر لیدلي وو . ښ د غه ټول خیزونه ده د ننزدې په ویښه ولیدل ، مګر په افغانستان کې د ظلم او نارو لمبې بلې وې .

افغانستان ته د زاکوف په رسیدو باندې په روسیانو کې د ژوند نوې ساه وچلیده . د زاکوف په فرایضو کې د پوځونو تنظیم ، وسله ، رسید او په امن او سلا متیا سره د هغو رسول شامل وو . ده خپل فرایض شروع کړي وو ، د ماڼي د تصور په هیندارې کې به ورته د خپل سپین ږیري پلار تصویر هم ستړګو ـ ستړګو ته کیده ؛ د هغه پلار تصویر ، چې زوی یې په افغانستان کې « آرډر آف لینن » حاصلولی شوای .

د روس او افغان پوځ فعالیت له پخوا نه ښه شوی و ، خو مجاهدینو په خورا زړورتیا سره پر روسي او افغاني پوځونو نا څاپي حملې کولې او دوی یې له پښو پرې ایستلي وو . مجاهدینو دوی ته زیات مالي او ځاني نقصانونه اړولي او ددې نه علاوه یې د نوې وسلو ولجه هم کړې وه . زاکوف د ماسکو هاڼۍ کمان ته ویلیکل : «د مجاهدینو عزم اهوحوصلې ته نوې وسلې هم شکست نه شي

نکردند تا بنگرند چگونه بود عاقبت آنانکه قبل از ایشان بودند خداوند همه چیز را بر آنان سرنگون ساخت و کافران را است (عاقبتی) مانند آن ».

« والذین کفروا فتعسا لهم واضل اعمالهم »

تفسیر :

خداوند طی این آیه فرجام عناصر کافر را (تعس) گفته است. معنیٔ تعس: با مانعی تصادم کردن و برو افتیدن است پس مفهوم آیه چنین میشود : آنانکه در طریق کفر قرار گرفتند، در هر قدمی با مانعی تصادم میکنند و برو بزمین می افتند ، اینان با کفر خود از همه ضوابط حاکم بر طبیعت انکار نموده، در جهت مخالف جریان طبیعی همه پدیده های هستی به حرکت می افتند که مسلماً در این حرکت همه چیز با ایشان تضاد نموده ، جلو شان را سد میکنند و باعث سقوط شان میشود.

قرآن عظیم الشان طبیعت و هستی را مجموعهٔ از پدیده ها معرفی میکند که طوعاً و کرهاً به عبادت خدای مالک الملکی معروف اند و از اوامر تکوینی اش تبعیت میکنند ، همه گردش انقیاد واستسلام بر زمین گذاشته اند و طبق قوانین تکوینی در سیری که برای آنان مشخص گردیده بسوی اهداف معینی در حرکت اند ولی عناصر در همان محدودهٔ که خداوند حکیم برای شان اختیار داده است (تا جهتی برای حرکت شان انتخاب کنند) با استفاده ازین آزادی بجای هماهنگی با حرکت مجموع کائنات ، برخلاف جریان

ورکولی . لهذا اوشین کهمایي ګیس دپر ژر راواستوئ چې د مجاهدینو قوت او کوتلتوب مات کړي شي ». ده یوازې او یوازې په تصور کې په خپلې سینې پورې د « آرډر آف لینن » نشان ځوړند لیده .

یوه ورځ چې د کار نه فارغ شواومابنام کورته تلنو، نو د زاکوف لور خپل پلار ته ووییل : دا دا! تاسې چې دلته راغلي یئ، کټ - مټ بدل شوي یئ ، آخر تاسې به ما ترڅو پورې قید او بندی ساتئ ؟ ماته بهر دلوبو کولو اجازت ولې نه راکوئ؟ که چیرې په ربنتیا سره موږ دا ملک فتحه کړي وی نو بیا د دې ملک د باشندګانو نه دومره وېره څه معنیٰ لري ؟ د زایرې په خبرو باندې د زاکوف په دماغ یې ژوبړې یوه داسې څپه راغله چې ټول وجود یې ارغې - ارغې شو .

زاکوف وویل :« لوري ! د حالاتو څېړنې اوس ستاد عقل نه اوچته خبره ده ، ته لا نه پوهیږې، چې دا خلک څومره خطرناک دی، دګولیو باران ددې خلکو په نزد هیڅ قسم اهمیت هم نه لري ! »

« لیکن موږ خو په خپله نه یو راغلي، موږ خو د ددې ملک د خلکو په بلنه راغلي یو ». ده به په جذباتي انداز کې خبرې کولې « زما لوري ! اوس دغه څیزونه نه شي پېژندلی ، څه آرام و کړه » .

زایرې به په سلګو کې وییل : افسوس دی، چې زما مور هم

ژوندۍ وای . زاکوف به چې ددې ژړا اوریده ، ډېر به خفه کیده ".

" لوړې ! مه ژاړه ، ژړه به ستا دپاره ډېر ژر د تفریح او لوبو بند وبست وکړم ، زما لوړې چوپه شه . " ده زایره په ډېر مشکل سره غلې کړه او خپلې کوټې ته یې بوتله ، ده په ذهن کې د جذباتو یو طوفان راغی . د زایرې د خولې نه یې چې د خپل ژوند د شریک نامه واوریده ، نو سودا یې نوره هم زیاته شوه ، د فریج نه یې د یخو اوبو یو بوتل راوکښه اوویې څښنه ، مګر د ده د جذباتو اور پرې مړ نه شو ، بیا یې د ودکا (شراب) بوتل وڅښه نشه او له ځانه ېې خبره پرېووت او ویده شو . کله-کله به د یې دردیږه په وجه یوه ډډه - بله ډډه هم واوښت ، خو خوب یې لا تر اوسه پوره نه شو .

سهار چې له خوبه را ویښ شو ، نو زایرې ورته د ناشتې (سبانۍ) په میز د اخبار د یوه خاص خبر په باب کې وویل د کوم په مطابق چې روسي پوځیانو د افغانستان د یوه کلي ټول واړه ماشومان ، ښځې او سپین ږیري ژوندۍ سیځلي وو .

" پلاره ! دا ګوندې په انسانیت باندې ظلم او ناروا نه ده؟ دا څرنګه د دوستۍ حق دی ؟ تاسې په دې کار باندې ولې احتجاج و نه کړ ؟ تاسې ته د وړاندې اطلاع نه وه؟... بس د سوالونو یو طوفان و ، چې د زایرې د خولې نه راووت .

هو ! ریښتیا ده لوړې ، دا په انسانیت صریح ظلم دی. داخبره

. زاکوف د خولې نه يې اختياره راووته . خپلې د غې خبرې او دلور دا قسم تپوسونو په ده کې د جرم پټ احساس راژوندی کړ دی په ماضی کې ورک شو ، اوس دی په کړيد لو او مظلومو انسانانو کې ولاړ و . دا کوم خلک دی ؟ دا هغه روسي کرګر دي ، چا چې په اجتماعی فارمونو کې د کار کولو نه انګار کړی دی او د ډېرو منټونو او ګواښونو باوجود کار کولو ته تيار نه دي . زاکوف د مرکز نه د دغه بغاوت د چقلولو په غرض لېږل شوی و ، زاکوف د زمينداړانو مشراتو راجمع کړل ، دی په خپله هم يوه شيبه وبوګنيده ، د وچو - زېرو څېرو کالبوتونه يې چې ولېدل ، نو د فکر په سمندر کې ډوب لاړ دده په زړه کې دهغو سره دهمدردی جذبات ټپي وهلې ، خو ډېر زر يې خپل پام په بله واړاوه ، او بيا هغوی ته مخاطب شو. ده وويل :

« که چېرې ټول کرګړان خپل کار ته را نه شي ، نو دا به د هغوی د ژوند آخری ورځ وي ».

سپېڅې وچاودېدې ، خو يو مزدور هم کارته را نغی زاکوف د کلو مز او پنځې را جمع کړل ، بيا يې يوه پنځه په بوری کې واچوله ، په ګوتکونو يې ووهله او په دې قسم سخت عذاب يې مړه کړه . ټول کلی د دغې مظلومې پنځې لرزه خېزو چيغو وارخطا کړ ، لمر هم د دغه دردناک حالت د لیدو تاب رانه وړ جامې يې بدلې کړې او پټ شو ، زاکوف حکم وکړ چې که چېرې

مټ سمباره پورې خلك كار ته راښه شي ، نو د هر كور بنځې به په دې طريقه ختمې كړم . دا يو داسې اعلان وُ ، چې د سر كښنود و پرته بله چاره نه وه . د كلو خلك د ظلم او وحشت د سيلاب مخ ته په سلامۍ ودريدل او مجبور شول .

د عظيموف كورنۍ كار ته ولاړه نه شوه ، دوی ددې ظالم سره د مقابلې كولو فيصله كړې وه . د عظيموف كورنۍ په انتهايي بيدارۍ سره د روس د انقلاب بنكار شوه ، دا قتل دو مره له هيبته ډك او دردناك و ، چې د كلي هر سړي مټر ډېرو پورې هېر نه كړی شو . د غسې اشخاصو ته به يې يو قسم پېچكاري كوله چې وجود به يې تښاكی شو ، د غه تنهاكې به څو شيبې وروسته وچاوديدې ، په لږ وخت كې به داسې هيبتناكې چيغې جوړې شوې ، چې حتىٰ آسمان به هم ولرزيده ، ليكن زاكوف په خپل حاى كې ډېر بې غمه او مطمئن وُ . او داسې به يې گڼله ، چې د روس يوه عنتره د بنمنه كورنۍ يې ووژله . زاكوف د عظيموف د لور ـ زافيې ـ سره واده وكړ ، مگر هغه هم صرف څو كاله ژوندۍ وه او د يوه اولاد د پيدايش نه وروسته يې دماغي حالت خراب شو او بيا مړه شوه . زاكوف د زايرې سره ډېره مينه كوله ، ممكن چې د دې كار به يوه وجه دا هم وه ، چې هغه غوښتل د ماضي د غه واقعه هېره كړي . د شپې په يوازيتوب كې به يې د بې گناه عظيموف زړه دردوونكې چيغې اوريدې ، احساس جرم يې په خپله سينه تپاوه او بې خونده ژوند يې تيراوه .

زاميرې به ويل : « دادا ! ډوډۍ سړېږي ، تاسې لکه چې خپه خوړلي وي ؟ »

زاکوف به ويل : نه لورې ما خوښ نه دي خوړلي. زه په دې سوچ کې يم، چې نن ستا د پاره د تفريح او سيل انتظام وکړم ، ځکه په دې کور کې خو نور ډېر په تنګ شوي ييو .

د ژمي موسم شروع شوی و ، په غروبونو باندې واورې پرتې وې ، زاکوف غوښتل چې د واورو نه وړاندې- وړاندې د مجاهدينو د رسد ټولې لارې بندې کړې شي . مګر ژمی وړو- وړو سختيده مجاهدينو خپلې سرګرمۍ تيزې کړې وې. مجاهدين د ورځې په رڼا او د شپې په تياره کې په تياره کې به پوځي موړچو ورختل ، د کارمل د انتظامي افسرانو او د خلق پرچم د پارټيو سړي به يې وژل .

زاکوف به دخپل مشن په دې سلسله کې خو- خو ورځې دخپل کور نه غيرحاضر وُ . ده فکر کاوه چې زايره دخپل ځان سره راولي، او دا د ده ډېره غټه غلطي ده، چې زايره يې دځان سره نه ده راوستې ، ځکه چې ده به دهغې حفاظت کاوه ، په دې غم او سودا کې ده خپل زړه خوړ .

ده دهغې د حفاظت د پاره دوه تنه روسي پوځيان مقرر کړي وو ، مګر بيا هم مطمئن نه و . يو مابنام چې زاکوف کور ته راغی نو ستړکې يې د ويښې او ترهغې په وجه سړې راوتلې وې ، خپه کوري

چې زايره لکه د مړې په شان په کټ کې پرته ده ، ډېره خفه او پريشانه ښکاري ، پلار يې ورته ټپوس وکړ ، چې ولې ؟

زما لورې ! ماته ټول حال وواېه . » زه به ددې قسم اشخاص ژوندي وسيزم ، د چا منحوس لاس چې په تالګيدلی وي ».

لور : دادا ! تاسې به انتقام اخلئ ! مګر د چا نه ؟ چې د محافظ نه ډاکو جوړ شي ، نو بيا څه کيدی شي . په مادکوم مجاهد لاس نه دی لګيدلی ، بلکه په مابانديې د محافظو د ډلې يوه سړې حمله کړې ده ، خو ما هغه د تل له پاره دوزخ ته واستولو ! »

زاکوف چې د مجاهدينو د زيانتيدونکو کاميابيو په وجه په سخته وېره اوترس کې و ، ډېر خفه و ؛ اوس ورسره د خپلې لور دا ستنې سودا هم ملګرې شوه ، په خپلو وطندارانو يې هم اعتماد ختم شو . ده د خپلې لور د حفاظت له پاره دوه تنه افغانان انتخاب کړل ، چې شپه - ورځ د هغې حفاظت وکړي . زاکوف د ورسپارل شويو وظايفو د سرته رسولو په سلسله کې ډېر مطمئن و . دی څو ورځې په ډاډه زړه د کابل نه بهر تللی و ، يوه شپه چې زاکوف بهر وتلی و ، نيمه شپه وه ، چې زايره ناڅاپه د خوب نه راويښه شوه . څه آواز يې تر غوږونو شو ، خو شپه وه ، څه کيدی شول . زايرې توماڼچه راواخيسته او د کمرې نه بهر ووته څه شيبه وروسته يې د آواز درک او پته ولګوله . زايره اريانه

پاتې شوه، هغه بوډا پې ولیدل چې هره ورځ د دوئ کور مخ ته ناست وي، هغه څو تصویرونه د خپل زاړه کمیس په یوه جیب کې اینبي او لاس په دوعا دی؛ د دغه سپین ږیرې د دوعا الفاظ واوریدل:

زاړې دغه دوعا کاوه اوریدې، چې ویل یې: « ای لویه خدایه! ته د زمکو او آسمانونو خالق یې، اوریدونکی یې، لیدونکی یې او رب العلمین یې. موږ حقیر او بې وسه بندګان ستا مقرره لارې ته برابر کړه او ستا د حکمونو غلامان مو کړه. موږ د طاعوت د اطاعت په وجه رسوا شوي یو، ستر پرون پورې ستاد رحم او کرم په برکت موږ آزاد وو. مګر نن محکوم او غلامان یو، په په شته کور کې بې کوره شوي یو، د ورځې د زرهاوو خلکو په عزت لوبې کیږي. نو ای لویه خاونده! ته زموږ په زړونو کې د خپل رحمت حصه ورد ننه کړه، ته موږ ته استقامت راکړې چې موږ د طاعوت نه د ایمان په قوت نجات حاصل کړو، د حق په لاره کې جهاد وکړو. که ته نن زموږ امداد و نه کړې او موږ ته په صراط المستقیم باندې د تلو قوت او توفیق را نه کړې نو موږ به د همیش د پاره د صفحې نه ورک او نابود شو».

دا داسې الفاظ وو، چې د غشي غوندې په زړه کې ښوتل د جناب سلګۍ ودریدې، دده سپینه ږیره په اوښکو لنده وه. د زاړې ذهن ددې منظر په لیدو وبوګنیده، ددې سړه د روسي قیادت په هکله نفرت پیدا شو، د خپل پلار نه یې هم زړه تور شو؛ چې هغه هره ورځ د زرهاوو بې ګناه انسانانو

په وینو لامبې . خباب د خپل جیب نه بیا یو ورکوټی شان کتاب را وکښه او د هغه په لوستلو یې شروع وکړه . د شپې په تیاره کې د هغه خوږې قریحې او د کتاب الفاظو، زایرې ته د پرتکین او اطمینان ورکړ . زایرې ته عربي ژبه نه ورتله، خو د غې قریحې زایرې ته د وجد کیفیت ورو ببنلو ، دې داسې محسوسوله چې دا تر اوسه پورې په تیاره کې پرته ده د هغې روح د حقیقت په لټون کې دی او د غه حقیقت د د غه بوډا سړه موجود دی . زایره په خپله کوټه کې ناسته او په زړه او دماغ کې یې یو غټ طوفان شروع و ، شپه یې په ډېره وېره او هیبت کې تېره کړه ، سهار ناوخته له خوبه راپاڅیده ، غرمه یې د بوډې په وخت د هغه سپین ږیرې نه تاشاپه تپوس وکړ : « آیا تاسو د شپې د کومې ژړا آواز اوریده ؟ » د بوډا څېره والوته او وې ویل : « نه، ما خو د هیڅ کوم څېز آواز نه دی اوریدلی » . زایرې بیا تپوس وکړ :

بابا جی ! تاسو د شپې چا سره خبرې کولې ؟ هغه کتاب او تصویرونه د چا وو ؟ سپین ږیرې خباب سر ټیټ کړ ؛ پ دې چې ولې یې راز افشاء شو او د دې زړه کله او چېرته لیدلی یم ؟ وویل بابا جی ! څنګه خبرې نه کوې ؟

سپین ږیرې : ما چې کوم کتاب ولو ، هغه زموږ مقدس کتاب (قرآن مجید) دی . او کوم تصویرونه چې تا ولیدل هغه زما د کورنۍ د اعضاوو دي ؛ چې د ظالم روس

یې پرانیسته :

زایرې وویل : بابا جی ! زه غواړم چې مسلمانه شم . زایرې دا خبره په ډیره سخته وکړه .

سپین ږیری خباب خان : « بچیه ! د حق په لاره کې به د راتلونکو مشکلاتو مقابله وکړې شې ؟

زایرې ډیر زر د سپین ږیرې خبره ور غوښه کړه او ویې ویل : زه د طاغوت نه د ایمان په طرف د سفر کولو لاره وهم ، ته ما مسلمانه کړه ، او د سرلوړې افغانستان د یوې باعصمتې لور شرف او افتخار راوبښه ؟ بیا به ما د مجاهدینو په ډډه کتار کې وګورې .

زایره د خباب له برکته مسلمانه شوه .

زاکوف یوه هفته پس ماښام کور ته راغی . زایره د پلار د راتګ منتظره وه . پلاره ! راغلې ؟ زایرې د زاکوف سره څه تاو - راتاو خبرې وکړې ، بیا یې ورته وویل : « ما نن ستا د پاره یو خاص ډوش تیار کړې دی . آیا تاسې یې خورئ- پلاره ؟!

زاکوف وویل : هو بچیه ! ولې نه ، زه به د خپلې ګرانې لور په لاسونو پاخه شوې څیزونه ضرور خورم .

د ډوډۍ په میز ورسره زایرې څه خبرې - اترې هم کولې کله چې زاکوف ډوډۍ . بس کړه ، زایرې ترې تپوس وکړ:

ي دي او تاسې څه فکر کوی ؟؟

حاکم و جهت حرکت همهٔ پدیده ها گام دبر میدارند ،که بدون شك باچنین حرکتی هرگز انسان به هدف نخواهد رسید، هر کوششی درین جهت ضایع بوده به تلاش مذبوحانهٔ بی ثمر مترادف است ، قرآن مجید در توضیح این مطلب که همه چیز به عبادت معبود یکتا مصروف اند ،میفرماید :

« سبح لله ما فی السمٰوات و ما فی الأرض و هوالعزیزالحکیم »

(سورهٔ الصف - آیهٔ ۱)

« به پاکی یادکرد خدا را آنچه در آسمانها ست و آنچه در زمین است و اوست غالب باحکمت » .

معنیٔ تسبیح اعتراف به پاکی ، گواهی و شهادت به پاکی و سعی سریع در عبادت و بندگیست . پس مفهوم آیهٔ مذبور این است که همه چیز به پاکی خدا (ج) اعتراف میکنند ، وی (ج) را از هر عیب و نقصی منزه میدانند و نسبت به این حقیقت مسلم گواهی وشهادت میدهند (چه گواهی بزبان حال و چه بزبان قال) و همچنان همه با سرعت وجدیت در عبادت و بندگی وی (ج) و امتثال احکامش مصروف اند .

این مطلب در جای دیگری چنین توضیح شده است :

« یسبح لله ما فی السمٰوات و ما فی الأرض الملك القدوس العزیزالحکیم »

(سورهٔ الجمعة : آیهٔ ۱)

« به پاکی یاد میکنند خدا را آنچه در آسمانها ست و آنچه

زاکوف : نه، بچیه ! زه هیڅ فکر نه کوم .

زایره : «نه پلاره ! زه غواړم چې ماته ووایې ، آخر دا څه مشکل دی، چې نه حل کیږي ؟»

زاکوف : «بچیه ! ستا د پاره مشکله ده، چې پوه شې. ځکه زه د خپل ژوند د نهایت اهم مشن په باب سوچ کوم !»

زایرې وویل : «پلاره! کوم مشن ؟»

زاکوف : «لورې ! تاته پته ده، چې د مجاهدینو سرګرمې ورځ په ورځ مخ په زیاتیدو دي ، زمونږ د فوجي مقام نه یوه زیاته اندازه وسله د نامعلومو ذرایعو او لارو نه مجاهدینو ته ورځ کیږي . مونږ په دې هره سخته سره د دغو ذرایعو تعقیب کوو ، که چېرې زما منصوبه مکمله شي ، نو ټول افغانستان به زمونږ تر پښو لاندې شي ؛ ما د دې خبرې تفصیلات په فایل (دوسیه) کې د ځان سره راوړي دي . بنه! زه نور له تا سره د دې خبرې نه شم کولی ، زه خپلې کوټې ته ځم، چای راته هلته راوړه» . زاکوف په تصور کې « آرډر آف لینن » په خپلې سینې پورې ځوړند لیده .

چای تیار شو ، د زایرې ذهن د پلار د منصوبې په باب پریشان وُ . زاکوف زایرې ته وویل : بچیه ! زه نن غواړم چې په وخت اوده شم ، خو چې سهار وکولی شم په یوه ښکلي مود کې د خپل مشن (فریضې) په طرف لاړ شم. بچیه ته هم نوره اوده شه او آرام وکړه . د زایرې د وتلو نه پس

ده د وډکا یو بوتل وڅښه او پرېووته ؛ د دنیا او مافیها نه ناخبر دخوب په غېږ کې .

زایره په خپله کوټه کې د زخمي شوې زمرې په شان وډې په ډډې اوښته راواوښته . د دې زمرې (زایرې) یو بنکار په زړه کې و ، دې غوښتل چې د پلار د فایل نه د هغه منصوبه پته کړي ؛ دغه منصوبه د مجاهدینو د ځنډولو او تباهۍ په باب وه . زایره ورو - ورو د زاکوف کوټې ته لاړه . وېې لیدل چې پلار یې د ځان نه ناخبر ، اوږد غزېدلی او په خوابده خوب ویده دی . زایرې فایل راواخیست ، په چټکتیا سره یې د منصوبې نقل واخیست ، فایل یې واپس په خپل ځای کېښود او خپلې کوټې ته راغله .

زایره خباب خان ته منتظره وه ، خو هغه نن را نغی . چونکه وخت ډېر زر تېرېده ، نو توره جامې یې واغوستې ، ځو فروړې خیزونه یې هم د ځان سره واخیستل او د هېشه د پاره د دغې بنکلې نه ووته ؛ دې د زاکوف په نامه یو خط هم پرېښود ، څو ګړۍ وروسته د مجاهدینو یوې اډې ته ورسیده ، مجاهدینو دې ته د زیات احترام په سترګو وکتل ، وېې لیدل چې خباب خان زخمي او بېهوشه پروت دی ؛ غالباً چې د کوم برید په موقع به زخمي شوی و . زایره لږه شېبه وروسته د مجاهدینو سردار ته بوتلل شو ، سرکمانډر چې دغه روسي پېغله په پېژنده او خباب کې ولیده ، وېې خندل . زایرې په چټکۍ سره خپلې خبرې

شروع کړې ؛ د زایرې خبرې د روسیانو د تازه منصوبې په سلسله کې وې ، د سرکمانډر په څېره کې د دې پېغلې په حق کې احترام او عقیدت لیدل کیده. ده ورته وویل :«بچیه ! ستا د جهاد جذبې د خلوص او د ایمان د حرارت نه موږ ډېر متأثر یو ، ما سره داسې الفاظ نه شته چې زه پرې د خپلې مجاهدې لور شکریه اداء کړم . دا د خدای لوی احسان دی ، چې هغه هرڅوک وغواړي کار ترې اخلي».

په دې وخت کې د مجاهدینو استازي خبر راوړ . د دې نه پس بیا مجاهدینو دا ځای پرېښود او بل یوه لیرې مقام ته لاړل . لږ وروسته ټیک شپږ بجې به وې چې په دې علاقه باندې د روسي جهازونو ګوله ماري شروع شوه ، ډېر ډېمونه او زهرجن ګیسونه یې وغورځول . بلې دوې ته مجاهدینو هم د خپلو مورچو ساتنه او حفاظت سخت کړی و دوی څو ټنه روسي اجنټان د خپل مذموم مقصد د حصول نه وړاندې ګرفتار کړي او مناسب سلوک یې ورسره کړی و .

کله چې ناکوف راویښ شو ، زایره یې ونه لیده ، اول خو ده دې خبرې ته څه قیمت ورنه کړ ، خو چې وخت ډېر تېرشو ، نو څه پریشان غوندې شو . په دې وجه د زایرې کوټې ته ورننوت ، خو په کوټه کې هیڅوک نه وو ، زایرې ته یې آواز ونه کړل ، خو هیڅ ځواب ورنه کړې شو . ناڅاپه یې مېز ته خیال شو ، ګوري چې یو لیک د مېز د یاسه پروت

دی. زاکوف د هغې په لوستلو شروع وکړه ؛ زاپیسرې لیکلي وو :

« گرانه پلاره ! زه ډېر افسوس کوم چې تا نه په یوه داسې وخت کې ښلېږم ، چې ته ما غونډې یوې لور ته ډېر ضرورت لرې . پلاره ! تا زه په دې ښېنا نه راوستلې وم ، چې د خپلو افغاني دوستانو سره روس امداد وکړم . خو پلاره ! یقین وکړه ، چې ما دا خبره رڼا ویې ، چې زموږ په وجه هره ورځ په زرهاوو بې ګناه انسانان تباه کیږي . موږ د افغاني مړو جسدونو نه هېڅ قیمت نه ورکوو په زرهاوو میندې د خپلو زړونو د ټوټو نه ، خوېندې د وړونو نه ... محرومې شوې . موږ دا هولناک جرمونه د ملک ګیرې د هوس په خاطر کوو . د هټلر حکمراني هم د دې قسم جرمونو نه امان غواړي ، شیطان هم په دا سې ګناهونو شرمیږي . زه په ډېر درد سره لیکم چې زما پلارهم په دې انسانیت سوزونکو جرایمو کې شامل دی ، ماته دا سې نه ښکاري ، چې ګوندې د وحشت دوران تېرشوی دی. زما په زړه او ضمیر چې په دې وجه کوم بوج پروت و ، هغه مې د ځان نه لیرې کړ . ما د خپل ژوند د ټولو نه اهم فیصله وکړه او د ژوند مقصد مې وټاکه ، زه مسلمانه شوم . اوس زما نوم خدیجه دی ، او که چیرې مجاهدینو قبوله کړله ، نو زه به د آزادۍ په جنګ کې حصه واخلم . تاسې ماته معافی وکړئ

زه په دې ډېره خوشاله یم، چې مسلمانه شوم، خو افسوس کوم چې ستاسې هغه د «آرډور آف لینن» خوب او ارمان به پوره نه شي .

(ستاسې لور خدیجه)

زا کوف د خپلې لور خط ولوست پټول وجود یې رپیدې راغله د تورتم تندې سیلې د هغه د ماضی د کتاب یوه پاڼه د هغه مخې ته وروښوده . دده ښځه هم د یوې مسلمانې کورنۍ سره تړلې وه، او جبر او تشدد هغه د حق د لارې نه وانه ړولې شوه . د هغه ټول وجود د واورو په شان یخ شوی و ، شونډې یې رپیدې او سترګې یې د وچو کانډو په شان بهر راوتلې وې .

به هستی تا کشیدم از عدم سر
ننهاده دایه نامم نذر سنگر
چو مادر سینه ام را دید گفتا
چه آماجیست بهر تیر و خنجر

محبت گرچه یك ساز نهان است
ولی بین من و بیرق عیان است
چو من در جنگ بودم پاسبانش
کنون بالای قبرم پاسبان است

«حنیف - بلخی»

زبیر - شفیقی

د شهید انوهدیره

هغه سپهارچې شپې خپل توره خادر د زمکې مخه پټل کړو ورسره سم د سیمې څخه د آلامو او چوپتیا کمپله هم پوله شوه د نهه پنځوسم کال د زمري د یارلسمه نېټه وه . د کلیو نرۍ او ښځې له خپلو کورونو څخه راووتل او په بیړه - بیړه یې د شاوخوا غرونو په لوړو منډې وهلې ، د وړو ماشومانو مغمومانه کړیږو فضا، په سراخیستې وه ، د شور ماشور او کنې-کوڼې په منځ کې بدکله-کله په لوړ آواز اوریدل کیدل چې : هلئ، ژر کوئ قوه راورسیده ، ځانونه رسوئ چې په نیمایي لاره کې مو کیر مه کړي .

د « بیکسمن » ډډې په مخه کې د مجاهدینو یو پوخ سنګر و، نو ځکه د لاندې سیمې د کډوالو یو لوی بهیر د خپلو ځانونې د ساتلو له پاره ورته مخه کړې وه ، پوله ډډه له شور او زون نه ډکه وه ، هرې خواته چیغې وې او فریادونه ، د ماشومانو ژړا ګانو او د بوډا ګانو او نورسرو لا لسهانده

منډو - ترڅو او شور ماشور يې وهه د ډېره غمجنه صحنه جوړه کړې وه .

د دې په مخه کې مجاهدينو په ډېر تلوار د دښمن د قوې ځارنه کوله او په ډېره ډې خپلې خپلې وسلې د مقابلې له پاره تيارولې .

کومې کډې چې د دې برخه خواته تېرې شوې نو به يې د خوړو نو په کرليځونو کې د اوبو تر څنګه واړول او خيال به يې کاوه چې نور نو د وحشي دښمن د تېرې څخه په امن شو ، د دې د خوړ په امتداد د ټالګيو او وښو ترسيوې لاندې په سلګونو کډې ځای په ځای شوې ، ښځو او بوډاګانو د مجاهدينو د بري او د روسانو د ماتې له پاره دوعاګانې کولې آن لا ور وکو ماشومانو په خپله ټبه ژبه او معصومانه لهجه ويل : « خدايه ! مجاهدينو ته بلې ولګې . » (خدايه ! مجاهدينو ته بري ورکړې .) ، « خدايه ! روسان تباه کې . » (خدايه ! روسان تباه کړې .)

ناڅاپه د دې پر آسمان څو هيليکوپټرې راښکاره شوې چې په ډېره ټيټه الوتنه د دې برخې خواته تېرې شوې ، دې پېښې کډوال ډېر وارخطا او په هيبت کې واچول ، ټولو سترګې د آسمان په لور نيولې وې ، د سترګو په رپ کې الوتکې په زمکه کښاستې او پوځيان يې پلې کړل ، څو لحظې لا نه وې تېرې چې وحشي روسانو له زمکې او هوا نه په مظلومو -

کډوالو او مجاهدینو باندې د خپلو توپونو ، بمبونو ، راکټونو او نورو وسلو په ذریعه ډېر زور ډزې پیل کړې ، داسې چې چا یې لا په خوب کې د لیدلو توان نه درلود - توله دره د اور په لمبو، شنولوخړو او ګردونو کې پټه شوه ، سروسانو د خو تنو تښتلاسو مجاهدینو او بې دفاع کډوالو د مقابلې له پاره د «بیکسن» په دره باندې په زرګونو تنه پوځیان د بې شمېره جنګي وسایلو سره ورمارش کړل ، تر مابنامه د روسي لښکرو د درنو وسلو درزهار دوام درلود ، کله - کله به د ډزو د کړاوېدو سره سم د مجاهدینو د تکبیر غږ تر غوږو کیده ، د هیچا دا ځله نه وه ، چې نور دې له دغه و وحشیانه بېرغل څخه د دې په منځ کې خوک ژوندی پاته شوی وي .

مابنام چې لمر د لوېدیځو غروڼو تر شا پټ شو د آسمان کنارو د «بیکسن» د دې په وینو لړلې منظرې اخوږ کړې ، د تیارې د خوږیدو سره روسان وړو - وړو بېرته د خپلې هلوې په لوري په شاوخوا کې ، د آسمان له منځ څخه هم هیلیکوپټرې وړکې شوې ، له دې ځایه د وینو بوی پورته کیده په لسګونو تنه مجاهدین ، وړوکي ماشومان ، تورسرې او بوډا ګان په سرو وینو کې لت - پت او شهیدان شوي وو وېښ او مات له توان څخه وتلی حالت و ، چا د مور او پلار او چا د خپلو زامنو او لوڼو د ټوکر - ټوکر بدن د وړکو ټوټو او غوښو تلاش کاوه ، ژړا او انګولا د شپې په زړه

کې د وډیر او غم ساز غږاوه . خوک چې د روسانو د یرغل څخه ژوندي پاته شوي وو-په ټوره شپه کې یې سبا ته د روسانو د بیا بریدله وېرې نه په ډېره خوښۍ سره د یوې خاورینې غونډۍ په لمنه کې په ډېر لوی او وېرونکي قبرونه وکیندل او په تپه تیاره کې یې شهیدان خاورو ته وسپارل .

دارنګه په یوه ورځ کې د روسانو د ظلم او تېري په وجه یوه نوې لویه هدیره جوړه شوه، چې د شهیدانو د ادیرې په نوم یادیږي ، شنه او سپین بیرغونه یې له لرې د هر چا نظر جلبوي او د روسانو د وحشت او بې رحمۍ یاد تازه کوي .

« والسلام »

انځورکښ

دپټ کور

دګڼ ګڼي په خوا کې د پټ او عزت کوږ و ـ ځلک هغه کور ته د عزت په سترګه ګورې او د پټ کوږ په بولي، کوم چې لاسونه په سوال او یا د چا حق ته نه وي اوږده شوي، چې خولې او خپټې په د چا په غوښو نه وي وچې شوې، چې سترګې په د چا په مال او ناموس پسې نه ګوري، چې ژبې په په والې وي- دروغ غیبت او سپکې- سپورې وربانديې نه وایي، چې غوږونه په هتا کانو فحاشانو ته نه وي نیولې او ښې په سپک کامونه نه اخلي ....

کنه د ثروت او قدرت خاوندان دې دي خو څوک په کورونو ته د پټ او عزت کوږونه نه وایي ـ

دوی له شر او فساده لرې ګزرزیدل ـ په لږ څه په قناعت و او په لږه برخه به یې خوښې ګډوډوله، په دې څه به یې د چا لاس خپلو ګریوانونو ته نه پرېښود او نه یې د بل ګریوان ته لاس وروړ ـ دا ځکه چې خپل عزت او آبرو ته په دې ارزښت قایل وو او د بل آبرو هم ورته محترمه وه ـ

د غاصب دښمن د سرو لښکرو په ضد وطن سور اور

در زمین است خدای نهایت پاک غالب با حکمت را ».

و در آیۀ دیگری باصراحت بیشترچنین افاده میشود:

« افغیردین الله یبغون وله اسلم من فی السمٰوات والأرض طوعاً وکرهاً والیه یرجعون ».

(سورۀ آل عمران: آیۀ ۸۳)

« آیا غیر از دین خدا(ج) را میجویند در حالیکه آنچه در آسمانها و زمین است طوعاً و کرهاً (خواسته و ناخواسته) برایش منقاد اند و بسوی او برگردانیده میشوند ».

یعنی عناصر کافر بجز دین خدا(ج) طریقۀ دیگری جستجو میکنند، درحالیکه درمجموع کائنات از دیانت دیگری، جز این دین امتثال بعمل نمی آید، دین همۀ کائنات دین خداست همه چیز هستی در برابر این دین خاضع و منقاد اند، بناء برهمین دلیل است که در آیات متعدد قرآن مجید بطور مکرر وباصراحت و وضاحت تمام، می آید که در زمین و آسمان، نه تنها هیچ چیزی به تائید مواضع و مواقف کافرانۀ عناصر کافر نمی پردازد، بلکه بر عکس به مقابلۀ گوناگون پرداخته وچون جندی مطیع وسپاهی فرمانبردار با جنود الشیطان تصادم میکند.

چنانچه قرآن مجید میفرماید:

« و لله جنود السمٰوات والارض و هوالعزیز الحکیم ».

« لشکرهای آسمانها و زمین از آن خدا ست و او غالب با حکمت است ».

کرځېدلی و . له هره ناوه د «چاریار» نارې او له هرې خولې د «الله اکبر» چیغې اوریدلې کیدې . درز ـ دروز ، نرې ول ، سوځول او مرګ ـ ژوبله وه . نر هغه و چې په ټینکونو وروخټې او مېړه هغه ، چې په توپونو ورسپور شي ....

دوی تش لاس او بې وسلې خلك وو . جنګیالي یې نه لرل یو د کاله پوخ عسکر ، یوه ښځه ، ځلور ـ پنځه لوبې او درې لغړه خوله زامن . نور یې سکني ځوك نه لرل ، که څه هم د دوی د کاله ځوك مستقیماً په غزا کې نه و شامل، بیا هم چا په سپکه نه وړته کتل او درښتت یې په ځای و ، ځکه چې د کور وړ یې مېله ته ښېرته و او دوډۍ یې له هیڅا نه سپمولې ، نوره لغوښې په مېړو پورې وه ، دوی ته ضرورت نه پاتېدو .

* * *

لېرې چېرته غازیانو د کنار څه ټیولې وه ، څو ټینکونه یې سوځولې ، څو کاڼي غله او جبه خانه یې لوټلې او ګڼې شمېر یرغلګر یې وژلې وو . دا خبر لا کلي ته نه و رارسیدلې ، چې الوتکې بیا راورسیدې او په کلي بمبونو ، راکټونو باران شروع شو رڼا ورځ یې ورباندې تنوره شپه کړه . کلي په دوړو او دودونو کې پټ شو . د زوی او د مور ښه سره ردې شوه کور به د خپل کور ور نه پېژاند او سپي خپل خاوند....

چې دوړې کښاستې او لوګي د بادونو په مرسته لېرې خوره شول ، بیج شوې خلك په خپلو خپلوانو پسې راووتل ، نیم کلي په

په کندوالو بدل شوی و ، دېر وارې - زارې تر خرواسره ونو خاورو لاندې شوي وو او دېر بېګناه کسان تپیان پراته وو . په هر کالا کې غم و خو د پت او عزت د کالا پته هم نه لګیده ، په ځای یې صرف د ژنګو دیوالونو لوټې اوبمونې جوړې کېږې کندې پاتې وې ، نور هرڅه له منځه تللي او د تل د پاره په خاورو کې پټ شوي وو .

بېګاه ته د رادیو نطاق په دېر ویاړ وویل : په لوګر کې د اشرارو بوه ډله د سرتېرو له خوا وتپکوله شوه

یو توپ سپی د تپکول شوي کالا په پاته لوټو پروت و سر یې په خپلو پښو ایښی و ، دوه ځاځکي اوښکي یې په سترګو کې ډب شوې وې ، خدای خبر چې ده به د کور د خاوندانو هغه د مینې لاسونه یادیدل چې دده په سر اوشا به تیریدل ، که به یې خپلې مجمولې آینده ته ژړل ؟

ژوندون یو سین دی موږ یې نه ښوونه
څو چې درېږ وي ، وي به مو جوړ نه
څې به سین شي ورکې به نشي
په مرګ باندې څه شو بیل له ژوندونه

غضنفر

آشنا قبرونه

چېرته چې به کونکی ناست و ، د هغې برنډې څنډې ته زما د تګ-راتګ لار وه . دا برنډه د کچه ګډه په شمالی اړخ کې واقع ده . مانه يې اصلی څښتن نه دی معلوم ، خو هغه وخت د کونډې په تصرف کې وه . د برنډې مخې ته لږ څه وړاندې د مهاجر وهډيره وه. د کچه ګډه دې اړخ ته کورونه نه-شته،او په هدې لحاظ د تلو-راتلو د پاره ښه مناسبه ګوښه ده .

زه د دې کمپ له خلکو سره نه پېژنم،خو د دوی په هدیره کې د دې داسې کسان ښخ دي، چې اوس مې هم نه هېرېږي او خیالونو- خوبونو ته ډېر راځي .

په دې درې قبرونو کې يو ګور ، د يو بې کسه او ناشناسه افغاني دی . په کوم مازیګر يې، چې دا سړي ښخاوه، نو زه د معمول غوندې له خپله کاره راتلم او د هدیرې څنډه مې تیریدم . په هدیره کې د پېر اولس راپېدا و . د خلکو ټول ته

ورښوتم . چا را ته وویل ، چې دا سړې ښځې سحر په پاخه سړک باندې موټر وواهه او ځای په ځای یې وواژه . مړې ټر اوسه پورې له پولیسو سره و ، خو ورته یې معلومه نه شوه او له ناچاره یې موټر ته د تدفین ۵ پاره راوسپاره . زه د مړې کټ ته ورنژدې شوم ، د مخ ته ولاړو کسانو له شا ې غاړ د ورهسکه کړم . د مړې په بدن څادر غوړیدلی و ، نور نه ښکاریده یوازې یې پښې لوڅې وې . د پښو تلې یې تکې زیږې اونښتې وې . ټر کټ لاندې تور سلیپر بوټونه وو . یو سپین پریږې ته یې څنګ لوړې وویل ، چې دا بوټونه هم دده دي . سلیپر تازه رنګ شوي او دوه ځایه پینه وو .

زه هلته څو شیبې ودریدم . د ځښو کسانو چې ما ته راپام شو او نا بلد ورمعلوم شوم ، ښو لاره یې راکړه او ګوا کې په پټه خوله یې را څخه وغوښتل ، چې د مړې مخ وګورم ، ګونډې وې پېژنم . که څه هم دا زما اخلاقي وظیفه وه او باید لیدلی مې وای خو د ځوان له مخه مې څادر پورته نه کړ ، او د خلکو له ډلې مې د راوتلو تکل وکړ ، په همدې وخت کې مې څوک وپوښتل چې سړې ځوان دی که زوړ ؟ هغه راته وویل ، ځوان دی .

د ځوانیمرګ د زیږو پښو او زړو سلیپرونو تصور په هغه شپه خوب راګډ و د کړ . ټر سهاره پورې نیم ویښ - نیم ویده وم او د دې پېښې رایادیدا مې ضمیر ډېر وځوراوه ، چې ما حتیٰ دهغه له لیدلو سره هم د لچسپي ښکاره نه کړه . یه هغه شپه

کې زما په بې شمېرو پښمانیو یوه بله اضافه شوه ، منتهی دېره بې وخته او لاعلاجه پښمانی .

سحر چې بیا کار ته تلم او هدیرې ته ورننوزدې شوم نو سترګې مې وار د وارې د ده په ګور ولګیدلې . د ګور خاوره لانمناکه وه او تور بخونه معلومیده . خو شیبې بې د قبر خواته ودرېدم او دوعا مې ورته وکړه . په هغه وخت کې به ګونګی د برندې سیورې ته ناست و . ګونګي د خپلو مخصوصو آوازونو او اشارو په واسطه وغوښتل ، چې ما دنوي ګور له وجوده خبر کړي . د ده زړه و ، چې ورسره کښېنم ، خو ما دا کار ونه کړ یو خو ناوخته و او بایدکار ته تللی وای ، بله دا چې خدای شته له ګونګی مې لږ-لږ ورته کیده. هغه ناجوړ و او ورو-ورو نه ټوخیده . د کمپ څښتو ماشومانو به ، چې دلته ننوزدې لوبې کولې اوله ګونګي سره بې ورانه وه ، کله-ناکله راته ویل : «بې ! بې! ده ته مه ورنوزدې کېږه ، دی سېل دی.» ما هم په ګونګي باندې دمسلول ګومان کاوه او د ماشومانو خبره مې محکه زړه منله ، چې هغو ضرور له خپلو مشرانو اوریدلي وو . کوچنیانو ته زمارکې له ګونګي سره په ابتدا کې بې معنی بنکاریدې . هغوی ته ګونګی بوډا لېوني هم بنکاریده او د ده دلېونتوب داثبات د پاره بې پوښتنه راته کوله، چې ته پوهېږې ، دا بوډا ولې د غرونو خواته ګوري ؟ چې ما به ورته وویل، زه نه پوهېږم ، نو دوی به په خندا-خندا کې ویل : دی له برندې نه وطن ته ګوري.

ما به سحر او مازیګر د لمر کونګی، هدیره او ماشومان لیدل. زه سوکه - سوکه له دې حالت سره عادت شوم، چې دا درې دیوه مثلث درې کونجونو ته ورته دي او د هدیرې د وجود غونډې، د لمر په دې مثلث کې کونګی او کوچنیان هم لازمي ټوکي دي.

ماشومان سر تر پایه د ژوند په خبر ناآرامه وو او زوږ به یې پټوله فضا نیولې وه. خو کونګی به خاموش و دیر لږ خوځیده، ورو - ورو به توخیده او له برندې به یې د لوبیدلو لور ته کتل. کونګي تقریباً د مړو او ماشومانو تر منځ یو منځنی حیثیت درلود. دی د ژوند او مرګ په برید کې یو بې اعتباره مزی و.

کوچنیانو د خان د پاره بودا یو مهم خنډ باله. د لمر د کمې د خړو خپمو، تنګو کوڅو او ورو غولیږو راډې خوا، اړخ او لوی میدان د لوبو د پاره خورا خوند ور ځای و. په دې ګوښه کې نه لیوان و، چې دوی له لوبو منع کړي او نه هم هغه غم لرلې خبرې، چې شاید غم انګیزو نظارو به یې د دوی په زړونو کې شکونه پیدا کول، په میدان کې پرته له بودا د ماشومانو د پاڅ بل مشکل نه و. کونګي له دوړو بد منل او په پوټلن میدان لوبې، خو ضرور دیرې دوړې جوړوي. بودا، چې به له کوچنیانو په تکلیف شو، نو د غرب له خوا به یې مخ راواړاوه "او تر دیره پورې به دوی ته زونګیده.

یوه ورځ په مثلث کې د معمول خلاف خاموشي وه. ماشومانو میدان نه و پرېښود، خو لوبې یې بس کړې او غلي وو. بودا هم له خپل پخوانۍ ځایه خوځیدلی او د برنډې له بلې څنډې یې غرب ته کتل. له ماشومانو مې پوښتنه وکړه، چې څه قصه ده؟ دوی د بودا له لاسه شکایت وکړ، چې هسې بې ځایه په قهر دی. «سړی» په کانو باندې بودا وواهه، بودا پسې راولاړ شو، دې دکور په خوا منډه واخیسته، خو په لارې وپرتله او خوله یې وینې شوه. بودا هغه پرېښوده او زموږ خوا ته راغی. زموږ څه ګناه ده؟ وهلی چا دی-او کنځلې چاته کوي؟ اوس که «سړی» له کوره ځوک راشي، هغه به هم مونږ سپکوي.

- سړه کومه یوه ده؟

- هغه، چې ستړکې یې شنې دي ...، چې ګودیه ورېره وي...، چې زېږ وېښتان لري ...، چې ....

مانه سړه رایاده شوه. دا به د شپږو- اوو کلونو په عمر وه خو ډېره شیطانه او په عین حال کې محجوبه ماشومه وه. ګودیه به یې همېشه په غېږ کې وه. یوه ورځ مې پوښتنه وکړه، چې نجلۍ، ته دکوم ځای یې؟ دا اول وشرمیده، خو وروسته یې ځواب راکړ: «زه د کابل یم او ګودیه مې هم د کابل ده. ګودیه مې مانه، ماما له کابله راوړې ده. دا د کابل ګودیه ده. دا مې ماما جان مانه راوړې ده.» ما بیا وپوښتله چې کابل چېرته دی؟ دا شیبه-نیمه غلې وه. بیا یې د لوېدیځ

لورته مخ واړاوه ، د خیبر غرونو ته یې لاس ونیوه او ویې ویل : ما خولته دی. لېرې دی . ما ددې د آزادولو له پاره وویل: د کابل ګوډیګه خو خرابې وي ؟ مګر دې ته زما خبره د بډه یې خایه بشکاره شوه . خپلې سترګې یې پورته کړې او ویې ویل : اوهـو ! د کابل ګوډیګه ځنګه خرابې وي !

سبا سهار بیا هغه میدان و او هغه لوبې ، د کوچنیانو شور ماشور ټوله پېښه سر اخیستې وه او د بېرونې خپګان نښنه نه وه. د بودا ماته راپام شو . هغه د همیشه غونډې د قبلې لور ته مخ اړولی او خاموشه ناست و .

ماشومانو، چې ولیدم نو هر یوه جدا - جدا مخالب کړم او راته یې وویل :

ای - ای !! «سره» هغه ده ! «سره» دغـه ده ! «سره» نن لا د بډه د خپل لقب غونډې سره شوې وه ، ځان یې پرېښولی و جامې یې پاکې وې او ګوډیګه یې هماغسې په غېږ کې ټینګه نیولې و ما ماشومانوته نصیحت وکړ ، چې بودا مه خپه کوئ ، که دی خپه کړئ، بیا به بښېراوۍ درته وکړي . ګورئ غاړې به مو بندې شي ! ... بیا بودا ته ورغلم ، هغه چې زه ولیدم ، نو شونډې یې له خندا بـډېرته شوې . له ماشومانو راضي غونډې و او اشاره یې راته وکړه ، چې کښېنه ، خو ما پوه کړ ، چې کار لرم ، نو اجازه مې ځنې وغوښتله .

زه به د معمول غونډې، په هغه لاره تلم او راتلم . د ماشومانو

سحر فنه او مازیګر فنه لوبې او د بودا ټوخل او لوبیدځ ته کتل جاري وو . هدیره ورو- ورو لوبیده . د بې کسه ځوان د ګور شاوخوا- ته د بر قبرونه جوړ شوي وو او هغه لکه د ژوند په اختتام کې چې تنها و - تنها نه و . د بودا ورځ په ورځ کمزورېدا او د هدیرې لوبیدا، د لارې د سر په مثلث کې د مرګ ترانه غږوله. زه اوس بودا ته نږدې هم کم ورکړځېدم ، د هغه نظرونه به د لوبیدځ په غږونو کې ښځ وو او لاروبو ته یې چندان نه پام کیدو. ماشومانو اوس ګونګې نه ځوراوه ، هغوی په ماباندې د بودا د خپل او خواخوږي ګومان راغلی و . دوی به هر یوه جدا جدا د ګونګې په باب اطلاعات راکول : « زه ګونګې ته څه نه وایم ... پلان پرون په بودا پورې وخندل ... ما ګونګې ته اوبه راوړې... ګونګې اوس له موږ نه خوشاله دی ..... » مابه د ماشومانو خبرې په دقت اوریدې او له دوی به مې د رضایت اظهار کاوه .

یو ځل څو ورځې سر په سر « سره » را نغله . ماله ماشومانو د « سرې » پوښتنه وکړه ، هغوی راته وویل، چې « سره » ناجوړه ده. څو ورځې نورې تېرې شوې ، زه مازیګر مهال له خپله کاره راتلم ، چې هدیرې ته راور سیدم ، د همیشه غوندې مې دوعا وکړه او د بې کسه ځوان ګور ته مې وکتل . زه لا ډېر نه وم راتېر شوی ، چې ماشومانو رانارې کړې : هغه د « سرې » قبر دی! « سره » مړه شوه ! . . . ما بې ارا د بې ګورستان ته وکتل او نوې کوچنۍ قبر مې ژر پیدا کړ . د کوچنیانو سره مې خبرې ونه کړې

بودا ته ورغلم . د هغه په سترګو کې اوښکې ډنډ شوې او د هديرې خوا ته يې اشاره وکړه .

زه به وروسته بيا تر ماشومانو او بودا هديرې ته ډېر متوجه وم . د « سرې » قبر به په ژور غم کې رايسارکړم او له دنيا به مې زړه تور شو . اوس په هديره کې دوه داسې قبرونه وو ، چې د خاوندانو ياد يې ډېر خوږ و لم ، خو د يوه مې هم حتې نوم زده نه و .

يو وخت داسې راغی ، چې بودا د کښېناستلو حوصله له لاسه ورکړه . تر ملا کاندې به يې خادر غوړولی او باندې پروت به و . دده مکړه ډېرېوتلو تشويش راپيدا کړ ، د برنډې خوا ته ور و ګرځېد م او د معدت پوښتنه مې وکړه . ده سر ته لاس وښيو او په اشاره يې پوه کړم ، چې سر يې چکر خوري او په ناسته په عذاب يږي .

زه به هماغسې تلم او راتلم . ماشومانو به له بودا نه لږې لوبې کولې او د دوی د پښو نه راولاړې دوړې به تر بودا پورې نه رارسيدې . ګونګې به په برنده کې په چپ اړخ پروت و ، د لمر پرېوانه لور ته به يې کتل او هديره لکه د مهاجرو کمپ ورو - ورو لوبيدله .

يو مازيګر د همېشه غوندې د ګورستان په لاره راتلم . په هديره کې بيا خلك راغونډ وو او کوم مړی يې بنخاوه . خـه شيبه وروسته پوه شوم ، چې خلك داځل په ګونګي باندې

بنا بر همین حقیقت مسلم است که می بینیم خدای حسیب برای سرکوبی و استیصال عصیانگران بی دین ، و سرکشان ستمگر این جنود مطیع و سپاهیان فرمانبردار را بکار گرفته است با حوادثی چون طوفان ، باد و باران ، صیحه و زلزله ... گروه‌های کافران ستمگر را مضمحل و نابود کرده است .

قرآن کریم میفرماید :

« فکلا اخذنا بذنبه فمنهم من ارسلنا علیه حاصبا و منهم من اخذته الصیحة و منهم من خسفنا به الأرض و منهم من اغرقنا و ما کان الله یظلمهم و لکن کانوا انفسهم یظلمون »

(سورۀ العنکبوت : آیۀ ۴۰)

« سپس هریکی را نسبت گناهش مواخذه کردیم و از ایشان بریکی باد سنگسار فرستادیم و از ایشان کسیست که اورا آواز تندی در گرفت و از آنان کسیست که در زمین فرو بردیمش و از آنان کسیکه غرقش ساختیم ، نبود خدا که بر آنان ظلم کند اما ایشان برخود ستم میکردند ».

مطالعۀ این آیه و آیات متعددی که حکایه از فرجام سرکشان می نماید چنین بر میآید که : قوم عاد که دارای قوت افرادی مستعد و نیروهای انسانی بی نظیر و مثالیست . قوم ثمود که از تمدن وسیع برخوردار است ، وادیهای طویل و عریضی را آثار تمدن آنان فرا گرفته است . و فرعون و فرعونیان که قوت سیاسی‌اش به

خاوري را اړوي .

ګونګۍ که څه هم د بېر پخوا د مرګ په پوله والړ و مګر زما زړه دا ځنله ، چې دی دې په تورو خاورو کې ښروت وي او غږ ته دې نه ګوري .

ما په لحد کې د وروستي ځل د پاره ورته وکتل او هلته مې هم ولیدل ، چې مخ یې د غږ خواته اوښتی دی . له یوه څنګ لوري مې په حیرانتیا سره وپوښتل ، چې عجیبه ده ، ده په ژوند هم لوید یځ ته کتل او اوس هم لوید یځ ته ګوري ! هغه وویل: ګونګی خوارکی ، پرد پسې د بېر حُوراوه او موږ به یې پوهلو ، چې هغې خواته لیدل مې څه ناڅه آزاموي . خو خلک د هر مړي مخ قبلې ته اړوي او دا شرعي امر دی .

زما په تصور کې لا اوس هم ګونګی هغسې ګوري او یو ډول تل مې زړه ته لار ومومي ، خوله یې کسه حُوان سړه ناحُواني مې لکه د هغې ځلمه یاد ، چې اوس له خپلې ګودۍ ، د خپل کابل له ګودۍ بېخي بېره لېرې ده - سخت حُوروي !

د کښ سینه - د کښ سینه
چې محوه نکړې د شهید وینه

د اباسین مخ ور باندې سور کړه
ګوندی دنیا ته شي خبر سپینه

لنډۍ

د جهاد لاره قرآني ده
څه ښه ځواني ده، چې د چا په برخه شينه
د مجاهد په پاکه ټوره
«الله اکبر» د کفر جړې پرې کوينه
د اتحاد بيرغ ريږي
ځوانان ټولږي اسلامي جهاد ته ځيينه
زه به پرې ولې فخر نه کړم
مجاهد ورور مې په اسلام سرور کوينه
خوشالي ټوله شهيد يووړه
په وړين تندي د الله لوريته ورځيينه
ما ته له خپله ځانه ګرانه
افغانستانه! ژړوي مې ستا يادونه
ګوټ-قلم پرې افتخار کړي
چې زه پرې ستايم د شهيد غيرتي وينه

په ګران وطن توري - تیاري دي
سپېدې خوري دي، دا تیاري به رنا شینه
که په سنګر کې شهید نه شوم!
بیا مې افغان مجاهد مه ګڼه مینه

ژلپونکې : خورکې « ز »

تر دا کړې پکړه دې ځار شم
د روسي وینې توپوه ګرانه مینه
توره په وینو، افغان راغی
څکه یې توره په سرو شوند و پاکومه
کارمله ! راشه، مسلمان شه
نامرده پریږده د روسانو مجلسونه
جانانه خُدایه! په کابل جنګ دی
په پښتو ننګ دی، په دښمن وکړه بریدونه
افغانه ! زیری مې دربانديې
د دښمن مو یو موټی ایری شو، بادیې وړینه
کابله ! ته به مې هېر نه ئې
که په سینه باندې مې بنځ شي نیشترونه
افغانستان کې غلغلې شوې
زلمیان تولیږي په وطن سر ورکومه

افغانستانه ! آباد اوسې
څو چې افغان په دنیا وي، تا به ساتینه
راځئ ! چې خدائ ته سر ټیټ کړو
چې خپل کرم د ننګیالي ملکۍ کړینه
څو کابل رنګ په ویښو نه کړم
راټول به نه کړم د بیرغ سره پلوونه
ځان به سل ځای کټې-کټې کړم
کابله ! تا به له دښمنه پا کـــومـــه
خدائ مې دې د رولې کابله !
دا څه ژوندون دی، چې بې تا ږدم قدمونه ؟
له سرو کفارو سره جنګ دی
سپینې سینې مې ځوانان ږدي پرکندا غونه
خدایه ! هغه به کوم ساعت وي ؟
چې د کابل په بیرغ و شیندم ګلونـــه
د آزادۍ په ناوې جنګ دی
زلمي په مینه کې سرونه ور کوینه
دا د «سپوږمي» شهید په توره
کابل رنا شو ، کارملیان په مات ځینه

رالیږونکی : محمد حسن - زاهـد

دواړه بیتونه کلي نه

خالوخان ـ ساده (پښتو)

غزل

خالوخان ـ ساده د پښتو د سيمې يو اور ژبې شاعر دی ، چې سواد نه لري او لوست نه شي کولای ، خو پاخه شعرونه وايي . دده شعرونه هم سوز لري ، هم درد لري هم په ډيرو ادبي بڼکلا وو پسوللي دی او هم د عشق حقيقي عارفانه نکات او اشارات لري . د شعر تر څنګې خوږ غږ هم لري او کله چې خپل کلام په ترنم وايي ، نو اوريدونکی د حيرت او استغراق په تال ورسره زنګوي . (اداره)

هيڅ نه پوهيږم نن ـ سبا د دې کابل په ژبه
جوړ نه پوهيږي دا روسيان چېرته دبل په ژبه

بر په کابل کې سامیري له خوښي بخدائ جوړکړي
موږ ښه پوهيږو د شيطان او د درغل په ژبه

ما د عادل او د صادق په رأيه ژوند تېراوه
رقيب په قهر شوکوي راته کنځل په ژبه

سر به تري خار کړم خو له یاره به انکار ونه کړم -
منصور په سر دار د مینې، دا ویل په ژبه

ټکي، دوکه، فریب د دنیا کې د شیطان خاصه ده
د سیاست خبرې پرې بردې الوتل په ژبه

بیکا شبنم په سویو کلو ستر سبا وژړل
ما دُر ناب د سترګو نم راوچول په ژبه

غشي راخوشې د نظر کړه چې په زړه ولګم
کله چې ستا د مخ زخمونه مې ښتل په ژبه

ما بنکلولې د آشنا شونډې په خپلو شونډو
د یېرې خوبې رالکیدې لکه عسل په ژبه

ظلم او جهل، مکر زیات شو د کابل په ژمه
تندر کوزار شه له آسمانه د کارمل په ژبه

خدایه! قلم او کاغذ را «ساده» غزل پرې لیکم
لیکم غزل د زړه په وینو د غزل په ژبه

*

زرکه

وطن

چې غرمه به د رست ویده شول
موږ به ووېستو له کوره
چې د ووړې لمر تود نه و
د طفلې د زړه له اوره

* * *

د زړې وڼې په سیوري
د سنرې ویالې په غاړه
موږ له خاورو - ختو غوښته
د سنې خوشالي واړه

* * *

چې مابنام به رخصت اخیست
زموږ له کلي د لمر وراڼکو
د تر هغه به زنګیدلو
لکه شنې پاڼې په څانګو

زموږ طفلي دلته ښندلې
زموږ ښادۍ دلته خوږې دي
هرې لوڼې پورې غوڼې
زموږ ښکلې خاطرې دي

* * *

په دې سيمه کې شوم پېغله
د ښايست په ښما پوه شوم
م د دې ګودر په غاړه
زه د عشق په معنا پوه شوم

* * *

اوس که ته پرې مرې ، که زه مرم
پروا نه لري دلداره !
زموږ سرونه د لوڼې شي
د خواږه وطن د پاره

* * *

زموږ د ژوند واړه خوښۍ دي
دې سپېرو خاورو ساتلي
زموږ هيلې - زموږ مينې -
پې روزلي م پاللي

*

حبیب الله - رفیع

شهید ارشاد

یوه آرزو راته پیدا شوه، هري خواته لاړم
کله چمن، کله بوستان، کله بیدیا ته لاړم

کله د مړلوي ګل ټر څنګه په حسرت کښیناستم
کله د نوي غوړیدلي ګل خندا ته لاړم

کله می ګډه بلبلانو سره وژړلې
کله پتنګ سره د سرو لنبو ریښاته لاړم

ستړکې نمجنې، زړونه مات، سینې سړې بنکاریږي
په تبغ د یأس وو شهیدان مانټسرا ته لاړم

ذلت ته تن ورکول دلته د هستی مایه وه
له مانه، نه وه دا پوره څکه فنا ته لاړم

فطرت مې نه مانه ذلت ، میل د ټیټوالې نه کړ
که حوادثو کړم ذره نو مشربا ته لاړم

چې مې اډیرې نه شي بالښت د ناکسانو دسر
لکه لوګی په پیچ او تاب پورته هوا ته لاړم

لاړم دتر هغه ځایه لاړم چې نشان مې ورک شو
تېر له دانش شومه د شعر او فضا ته لاړم

*

هو! هغه ذلت ته تن نه شو ورکولی ، هغه دخپل اولس ذلت نه شو لیدلی ، هغه د ذلیلو او رذیلو خلکو نا شندې نه شوې زغملې ، هغه د دین او وطن له د بمنانو سره نه شوې جوړېدلی هغه د حوادثو مېچنې ته ځان ورکړ ، ذره-ذره شو، خو ذرې ې د مشرۍ په ځای مشریا ته ولاړې او پاکه روح ې آسمان ته پرواز وکړ !

هو! هغه شهید شو ، هغه په پاکه عقیده شهید شو او هغه د حق په مرسته او ملاتړ شهید شو ، هغه د حق-غوښتنې په جرم دارته وخړول شو ځکه چې هغه عقیده د رلوده :

حق همېش په قربانۍ سره کا ته شي
دار ته نه بیایي هغه چې ې وي زبان چوپ

پیامبر ایست که مخالفین رژیم را با میخ ها تعذیب میکرد و بدست و پای شان میخ میکوفت ولی مرسه قوم با همهٔ امکانات مادی تخنیکی و سیاسی شان در فرجام با سرنوشت شومی روبرو میشوند و عذاب خداوندی به یکبارگی آنانرا فرا میگیرد ، خدای حسیب و منتقم که در کمینگاه ترصد است در پایان مهلت و در انجام نهائی خطی که ستمگران انتخاب کرده اند و غافل از عقوبت سوی آن جلو میرفتند همه را در پرتگاه عذاب سقوط دادند .

قرآن مجید در جای دیگری میفرماید :

« فعتوا عن أمر ربهم فاخذتهم الصّعقة و هم ینظرون »

(سورهٔ الذاریات : آیهٔ ٤٤)

« پس از فرمان پروردگارخویش سرکشی کردند بناء ایشانرا نعرهٔ تندی در گرفت، درحالیکه میدیدند »

همچنان میفرماید :

« فاخذتهم الصیحة بالحق فجعلنهم غثاء فبعدا للقوم الظلمین »

(سورهٔ المؤمنون : آیهٔ ٤١)

« پس براستی که آنانرا آواز تندی درگرفت ، پس ساختیم ایشانرا چون خاشاک درهم شکسته ، پس دوری باد قوم ستمگر را (لعنت بر قوم ستمگر)

« ذلک بأنهم کرهوا ما أنزل الله فاحبط اعمالهم »

(سورهٔ محمد : آیه ۹)

« این بدان سبب است که ایشان چیزیرا نه پسندیدند که

۱۲۹۶ هـ ش کال د پروان د بګرام په « یوزباشي » نومي کلي کې وزیږید .

بناغلي ارشاد لومړنۍ زده کړه د وخت له ایجاباتو سره سم په خپل کور کې له خصوصي استاد انو څخه وکړه ، په ۱۳۱۵ هـ ش کال د کابل په دارالعلوم کې شامل شو او په ۱۳۲۲ هـ ش کال یې دا مدرسه په اعلی درجه سرته ورسوله . له هدې کاله یې ماموریت هم پیل او د کابل ولایت د حقوقو مدیر وټاکل شو په ۱۳۲۷ هـ ش کال کې د عدلیې وزارت د مفتش په حیث ؤ او یو کال وروسته د جمعیت العلماء منشي او د « الفلاح » د مجلې چلوونکی شو ، په ۱۳۳۰ هـ ش کال د کندهار د مطبوعاتو لوی مدیر او د طلوع افغان چلوونکی ؤ ، په ۱۳۳۲ کال کې د مطبوعاتو د مستقل ریاست د مشاور په حیث او بیا په ۱۳۳۳ کال د مطبوعاتو د ریاست د نشراتو لوی مدیر مقرر شو ، په ۱۳۳٤ هـ ش کال د پروان د ورځپاڼې مسئول چلوونکی ؤ او بیا په ۱۳۳٦ هـ ش کال د هېواد د نشراتي مؤسسې آمر او د هېواد د ورځپاڼې چلوونکی وټاکل شو . څه موده د « تنویرافکار » رئیس ؤ ، بیا د اولسي جرګې د دولسمې دورې د پاره له بګرام څخه کاندید او وروسته له بریالیتوبه د اولسي جرګې د لومړۍ منشي په توګه انتخاب شو :

نه ویریږي هغه چې د حق په لار روان وي تل
حق به یې ساتي او حقیقت یې نګهبان وي تل

نه موې ذلت چې محبت لري له حق سره
مينه چې د حق کړي عزت خوله به يې قرآن وي تل

خلاص به د ذلت له تاريکو څخه مدام کړې
چا ته چې د حق او حقيقت څراغ روښان وي تل

مه لټښته له حقه، حقيقت خپله پېښه کړه تل
حق چې څوک چلېږي، خلک ټول پرې مهربان وي تل

حق د مولا نوم دی، ګوره حق چې فراموش نه کړې
واچې پرې مخ له حقيقته پرېشان وي تل

دا د حق وعده ده چې د حق مقابله نه شي
حق به وي غالب او دښمنان به يې پرېشان وي تل

هر چا ښه موږنديې ده له حق او حقيقت څخې
هر څوک چې په حقه ځي محبوب د ټول جهان وي تل

سم په لاره درومه بيا له هيڅا نه پروا مه کړه
هسګه غاړه کړځې چې ساتلی يې ايمان وي تل

چا چې وې پرې اينې سه لار او په غلطه ځي
حق يې شرموي او خجالت په هر ميدان وي تل

بنه نو هدا وي چې د حق ملګرتيا وکړې
ته که د غه کار کړې د ارشاد به دا بيا خو وې تل

*

ليکوالي او شاعري د مولانا ارشاد د زړه مينه او د ژوند ذوق ؤ ، د طالب العلمي له دورې نه د هيواد له مظلوعاتو سره همکار ؤ او شاعري يې کوله ، خو ځل يې مظلوعاتي جايزې وړې او د عرفاني خدمت له امله يې د ډوهنې درجه ښيان کتلې دي .

" د عشق جلوه " د مولانا ارشاد د عشقي او اجتماعي شعرونو مجموعه ده چې په ۱۳۴۴ هـ ، ش کال د مظلوعاتو د وزارت له خوا خپره شوې ده ، " د طلوع پلوشه " دده يو بل منظوم ادبي دي چې د طلوع افغان له اداري څخه نشر شوی او هم يې " د اسلام غږ په غرب کې " يو ژباړلی اثر دی چې دا هم د طلوع له اداري څخه نشر شوی دی ، ده په پښتو سربيره په دري ژبه هم ليکنې کولې او په عربي ژبه کې يې هم بنه لاس درلود :

شپوه د سمې په ژوندون کې له دريابه زده کړه
بې شانې د دې جهان هم له حبابه زده کړه

په سر کې شور، په زړه کې اور، سترګې له اوښکو کې
رنګ د طوفان لرل له موجې د سحابه زده کړه

په سوز، ګداز کې تبسم له حال د شمعې ځنې
د خار وخس په جفا صبر له ګلابه زده کړه

اسره دکل کاندې مغه چې سوز د عشق نه لري
مزه دمینې د پتنګ د عشق له بابه زده کړه

پېښو ته تن ورکول، زړه لکه سندان نیولی
سرګردانې په دې جیحون کې له ګردابه زده کړه

ژړا، فریاد د زړه له اوره، لا لنبه زپا توي
په شه دقیق نظر د غم راز له کبابه زده کړه

چې همت لوړوي ورکتوب مانع د سعی نه شي
د اعتلاء راز د ذرې له وړیې شتابه زده کړه

« ارشاد » د شعر په مقام کې دا خبره کوي
اثر د شعر د وینا له آب وتابه زده کړي

تاسو ولوستل چې ارشاد واقعاً شاعر وُ ، شعر يې هم هغې خوا او هغې جوړښت لرې او هم مضمون ، محتوىٰ او هدف. خو بيا هم دده ژوند او شغل دده په شعر کې يوه ځپځپاندې او مواجې راپيدا کړې ده ، کله رندي کوي او مستي ، خو کله بيا وعظ کوي او نصيحت او د يوه شاعر په حيث په دوو رنګونو کې رابرسيره کيږي .

موږ په داسې حال کې چې دده او د هېواد د نورو سپېڅلو شهيدانو روحونه ښاد غواړو ، دده ياد د ده . د زمانې په درس را ژوندی کوو :

چې تېرشي هېرشي دا متل د پښتنو دی ، مګر-
هيريږي نه د بدو بد ، او د ښو ښه نومونه

د نوښيروان د عدل نوم زمانه نه هيروي
لکه چې نه هيروي هيڅوک د حجاج ظلمونه

که هرڅه هر کړي زمانه ، هيڅ به هېر نه کړي ددا-
چې د نبي د کورڼې دوينو تله رودونه

زمانه تېره په حسينؓ ، او يزيد هم تېره شوه
خو د دې دواړو د ياد بود د تر منځ شته فرقونه

زمانه هرڅه د هرچا په خپله بڼه لیکي
د نیکو نیک یادونه وي، د بدو بد یادونه

د بصیرت نظر په کار دی چې تېر هېرنه کاندې
نه حوادث د زمانې ، نه د فلک دودونـــه

فلک مدام دچا په کام په یوه شان نه څرخي
نه مدام سرې جامې رابا سي د جهان خمونه

د یوه د هیڅا نه ترسبا پورې رڼا نه کاندي
نه تل تاوده وي محافل ، نه وي مدام جامونه

سړې دغه دی چې په هیڅ وخت کې حق هېرنه کاندي
د زمانې له کیږ و داره واخلي بڼه درســـونه

سلام درود دې وي د حق د شهیدانو روح
هم چې د حق له مینې ډک لري سینو کې زړونه!

« پای »

Monthly

SPEDE



VOL - II - No. 13
August : 1985

P. O. BOX 665
Peshawar Pakistan

خداوند نازل کرده است ، پس اعمال شانرا حبط کرد ».

در آیات متعدد قرآن مجید دلیل ابطال تلاش‌های عناصر کافر ، اعراض آنان از کتاب الله و انکار آنان از ما انزل الله معرفی گردیده است . چنانچه میفرماید :

« الذین ضل سعیهم فی الحیوة الدنیا و هم یحسبون أنهم یحسنون صنعا أولئک الذین کفروا بایٰت ربهم و لقائه فحبطت اعمالهم فلانقیم لهم یوم القیٰمة و زنا ».

(سورهٔ الکهف: آیهٔ ۱۰۴-۱۰۵)

« کسانیکه کوشش شان در زندگی دنیا گم شد و گمان میبرند که گویا ایشان عملاً نیکوکاری میکنند، این گروه کسانی اند که بر آیات پروردگار شان و به لقای او کفر ورزیدند ، پس ضایع شد کوشش شان ، پس قایم نخواهیم کرد برای آنان در روز قیامت هیچ وزنی . (برای سنجش قدر وقیمت عمل آنان میزانی بکار نخواهد رفت) .

جای دیگری میفرماید :

« والذین کذبوا بآیٰتنا و لقاء الآخرة حبطت اعمالهم ».

(سورهٔ الأعراف: آیهٔ ۱۴۷)

« کسانیکه آیات ما و ملاقات آخرت را تکذیب کردند اعمال شان بهدر رفت ».

چنانچه در لابراتواری بدون مراعات قوانین فزیکی و کیمیاوی و بدون توجه به خصوصیت عناصر که در فزیک و کیمیا بررسی گردیده است امکان ایجاد هیچ ترکیبی میسر نیست و در صورت

ہدہد

میاشتنی ادبی مجلہ

Asian Resources & Information Centre
ARIC

(۱۳)

بسم اللہ الرحمٰن الرحیم

اَللّٰهُ وَلِيُّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا يُخْرِجُهُمْ مِّنَ الظُّلُمٰتِ اِلَى النُّوْرِ ؕ وَالَّذِيْنَ كَفَرُوْٓا اَوْلِيٰٓئُهُمُ الطَّاغُوْتُ يُخْرِجُوْنَهُمْ مِّنَ النُّوْرِ اِلَى الظُّلُمٰتِ ؕ اُولٰٓئِكَ اَصْحٰبُ النَّارِ ۚ هُمْ فِيْهَا خٰلِدُوْنَ ۝

سورۃ البقرۃ آیت (۲۵۷)

وجہ اشتراک سالانہ :

در امریکا ۔ ۳۰ دالر

در اروپا ۔ ۲۵ "

در پاکستان ۔ ۶۰ روپیہ

شش ماہہ :

نصف قیمت

بانکی حساب :

الائیڈ بانک ۔ حبیب بنک مور روڈ برانچ

اکاونٹ نمبر (۵۴۴)